سلسلهٔ نشریات روزنامهٔ اصلاح

# پت مینه

اثر: «کشککی»

Ketabton.com

۱۳۱۷

مطبعهٔ عمومی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحيم

## پېژندنه

## اول ټوك

يو سړی و چه ( محمود ) نوميده او کسب ئې دکانداري و .

د ( محمود ) دکانداري ځنی به فقط دومره ښې هره ورځ په لاس ورتنه ، چه د خپلې دعيالداري بهٔ ئې په هغه باندې دقوت اولايموت وسيلې برابره ولې او په مشکل سره بهٔ ئې خپل رأس المال په هغه سره ساته اود قرضدارانو اودمعامله دارانو خوله بهٔ ئې بندوله اوله کومه ورځې به په دکان کښې نه کيناستو اويائې چاله دکانه څه شی نه آخسته . نو دی خوار به د خپل دصبا اوبيگا خرڅ ته حق حيران وه .

دده کورنۍ عبارت وه له يوې ښځې . او دوه هلکانو څخه چه په نامه يو په ( مجيد ) اوبل په ( حميد ) سره ياديدلو .

اگر که ددې کورنی گذران دخوراك اوډيوښاك له لوري چندانی ښه نه و ، مگر سره له دې هم هرکله چه دوی دخپلې برستنې په اندازه سره پښې غزولې او هر قسم چه کيده خپله گذاره بهٔ ئې سره کوله ، نوغير له دې څخه چه دخپلو اوپرديو په نظر کښې دخوارانو په شانی راتلل دوی پخپل کور کښې سره خوشحال اوآرام اودادفقيری کور به دوی ته لکه يو پادشاهی ښکاريده ، چه دهغوی په سر ددوی پلار ( محمود ) حکومت کاوه ، او د دوی په منځ کښې دهغوی مور ( فاطمه ) په کار او انتظام سره بخته وه .

مگر ددنيا پيښې داسې دي چه تل نه دفقير ، فقيری ؟ او نه دپادشاه ، پادشاهي پاتې کيږي اوهميشه ددې عالم راحت سره زحمت ، او گل سره اغزی موجود دی ، نو ناڅاپه ددې فقيری کورنۍ ته هم يو لوی مصيبت واقع او ددوی گټيالی ( محمود ) وروسته له لږې رنځوری څخه مړ شو اودوی ئې گردنه په واڅې په وير کښې کينول ، بلکه له خاورواو ايرو سره ئې برابر کړ او .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دده اوی مکتبی زوی ( مجید ) دخپل دپلار د مړکیدو په وخت کښی شل کلن و اوپل وروړلی ( مجید ) د پنځه لسو کلو ځنی زیات عمر نه درلود .

دی خواری کورنی چه خپل ګټیالی ګی لهلاسه ایستلی و ، پخپل کورکښی ګی غیر لهفقر اومسکنت اوډقرضداراسو غو بنتنی اولږ ددکان لـه جنس څخه بل شی نه درلودل ، چه لههغه ی اجناسو څخه ګی هم دخپل دمړی ګور او کفن ، اوهم دقرضدارانوخهتسکین ، اوهم خپله ګـذاره پهډیر ذول او زول اومشکل سره کوله .

دوی ګرد پهدی باندی ښه پوهیدل که بله کومه اساسی چاره اووسیله دخپل دژوندون لپاره روغه نه کړی ، نوهغه وخت به لری نه وی چه دهغوی ډالږ څه جنس چه پاتی دی ، او هره ورځ ګی په نیمائی قیمت باندی لهلاسهووزی ، اوپه ګیټه باندی خوړل کیږی ، اوقرضدارانو باندی ویشل کیږی ، بالـکل به خلاص شی ؟ او دوی بهپهډاګ اوبیابان کښی پاتی شی .

نو لهدی جهته (مجید) ناچاره شو چه لهمکتبه ووزی اوځان په کوم یو کار او غریبی کښی واچوی ترڅو چه دهغی لهګټی ځنی دخپلی موراو ورورااودکورساتنه وکوی .

مګرسره لهدی مجبورتیا هغه زغرد نهشو کولی چه لهخپل تعلیم اوتربیت څخه (چهاصلی دولت اوعزت اوپنګه بللهشی ) سترګی پټی کړی ، اوپهمعمولی کاروباندی (چه نتیجه بهګی لـکه د دوی دپلار دژوندون پهشانی وی ) خپل ځان مشغول کاندی .

پهدی فکر اوتدبذب کښ (مجید) خوارڅو هفتی نورهم پهمکتب کښی پاتی شو ، اوزړه ګی و چه هررنځ اوتکلیف باید پخپل ځان واخلی ، مګر ذمکتب ګټه لهلاسهپهوړیاسره ونهباسی ، ترڅو چهدفارغ التحصیلی سندپهلاس رانهوړی .

مګر (مجید) خوار پخپل دی عزم اواراده باندی ممکنه نهوه چهپاتی شی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳

ولې چه زمانې ګرد کار و نه د انسان د میل او د خواهش څخه چپ پېښېږي

او د روزګار تګ همېشه د انسان پخلاف لوېږي او له همدې جهته دي

چه په ګرده دنیا کښې به هیڅوک داسې پیدا نشي چه د فلک ګردشه به پېښې

نه لري او د دنیا ګردو پېښو څخه به تل خوښ وي. او بناءً چه په داسې

پېښو کښې د انسانانو قصور وي چه هغوی د دنیا واقعات په بد ډول وي

او ګوري پېښې د خپل خیال څخه چپ تفسیر او تعبیر کوي.

نو چاره په ده باندې منحصره شوه چه (مجید) خپل آخرینی تصمیم و نیسي، ځکه چه دده کنده رنځوره مور (فاطمه) او وړې تږې وروړ (حمید دده) کتنې او پالنې او مرستې ته اړ او محتاج وو او دوی به ده ته پانه کوله چه د کور او د وروړ او د مور غم و خوري، او که نه دوی به له لوږې او تندې ځنې له لاسه ووزي.

ده غوښته چه مدرسې ته لاړ شي، مګر د انسانیت او اسلامیت وظیفې له ده څخه نور شی هم غوښتل او هغه دا و چه د مورنی حق او د کورنی ضروریاتو ته هم پام ولري.

(مجید) مجبور و په هغه چه زده کړې غواړي پښه کېږدي، او له تعلیم او تربیې ځنې لاس واخلي او د مکتب د تګ او راتګ څخه پښه و نیسي، لکه چه همداسې ئې هم وکړ او.

یوه ورځ صباڅې (ګهیځ) مکتب ته ولی، پخوا له دې څخه چه د مکتب زنګ و واهه شي، د خپل د کلاس ګردو دوستانو او آشنایانو سره ئې وليدل، د ګردو سره ئې خدای پاماني او وداع وکړه او خپل کتابونه او قلمونه او مشواني او نور شیان ئې د هغوی په منځ کښې د یادګار په ډول و ویشل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوپه داسې یو ډول چه زړه ئې هم نه کېده ، په زړه سره له مکتبه بېرته .

( مجید ) خوار هیڅ نه پوهیده چه اوس چېر ته لاړ شي ؟ او په کوم یو کار باندې پیل وکړي ؟ .

گرده ورځ لکه لېوني دې خوا هغه خوا وگرځېده ، او دشپې په تیاره کښې په نا امیدي او حسرت سره چه ستونې ئې له زړ ا څخه ډك و ، خپل کورته وزې ، تېزې سترې ستومانه راغې او هغسې خپلې مور او ورور غوندې پخپله بستره باندې نهار پر یوت .

گویا لمړې ځلې دې چه ( مجید ) دژوندون تریخ غوړپ وڅکلو ، او لږ څه وپوهید او چه په هوسائې سره شپې او ورځې تېرول څومره گران دې . دې په دې اندازه سره غمجن او خفه و ، چه دخپل دځان دوژلو په فکر کښې و او وېل ، مگر ز ړ نتیاو غیرت ورته ورېده او له خپل ځان سره ئې و وېل چه دخپل دځان په وژ لو اگر که په ظاهر ې خو ر ز ه آ ر امېږ م مگر په واقع کښې د خدای په نز د په آخرت کښې مسئول او گرم مېږم ، او هم مور او ورورمې خوار او زار پاتې کېږي - نو بهتره داده چه لکه نو رو ځلمیانو غوندې دمیړا نې ملا کلکه وتړ م او دخپل د ښه ژ وندون په ذریعه سره ، دخپلې مور او ورور ژ وند و ن هم ښائسته او په هوسائې کړ م .

په مجرد د تېرید لو ددې خیال ، دده په زړه کښې سمدلا سه هغه خفگا ن او پریشانې په خوشحالې او ډاډینه باندې بدله شوله او په دې خبره باندې ئې عزم او اراده ټینگه شوه چه ژوندون له ښائست او هر رازې ښه والې څخه ډك دې په دې شرط سره چه انسان زیار و کاږي او په ځان باند ې زحمت و نیسي نو څو چه ددنیا آرامي او خوشحالي دده په برخه شي او په ژو ند و ن کښې هر له رازې نعمت او هوسائې څخه فائده من وگر زي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعجب مه کړی چه له داسی یو لوی بد کاره یعنی دخپل د ځان له ورلو ځنی په عین مایوسی او ناامیدی کښی څرنګه (مجید) مخ و ګرزاوه، او هغه ژوندون ته چه خو دقیقی وړاندی له دی څخه ئی، هغه په بده سترګه کتلو، او له هغه څخه بیزاره شوی و، او س په ښه سترګه ورته ګوری، او بیائی بیرته امید واری پیدا شوی ده، او پخپل ځان باندی

هم زیات اعتماد او ډاډینه لری، او پو هیږی چه په دنیا کښی

هیڅ داسی یو مشکل او سختی نشته چه دانسانی په عزم او اراده

سره لری نشی مګر په دی شرط سره چه انسان در لودنکی

د ټینګی ارادی او کلك عزم وی.

ولی چه دا ګردشیان ئی په مکتب کښی څوځلی، او ستلی او له خپلو استاذانو ځنی ئی په وار وار، اوریدلی و.

څو ورځی پله پسی تیری شولی مګر (مجید) ته هیڅ یو کار او غریبی چه په هغه باندی مشغولیده، او له هغه څخه دخپلی دګورنی دفوت لا یموت وسیله پیدا کاندی، پیدا نشوه، او په لاس ئی ورنه غله،، مګر سره له هغه (مجید) تل د کار په پلټنه کښی بخت و او شپه او ورځ ئی فکر او خیال کښی همدا خبره پرته وه چه بیائی په هره

وسیله سره چه وی باید کار وکړم، او له بیکاری څخه چه دګردو

اخلاقی معائبو مورده ځان وژغورم.

دیوی میاشتی تګ اوراتګ او لټو لوځنی وروسته، په یوه تجارتی مؤسسه کښی یوه معمولی تنخواه (مجید) ځانته پیدا کړه، اګرکه دا تنخواه ډیره لږه وه، مګر له هیڅه ښه وه، او دده دکورنی

سپوره ډوډۍ لادې ښځه پوديده، او دهغې په واسطه سره ددوی همدالا کت او بدبختي چه له پوری مباشتی يا ځلويښتو شپو راپيسی په دوی باندی راغلی وه، سپکيده.

اوس چه (مجيد) ته کارپيدا شو او وئې ليده چه دده دپلار د مړکيدو له ورځو ځنی وروسته پاد دوی په کورکښ اول ځلی لوګی پورته شو، او دتودی ډوډۍ خوندئې په مزو مزو سره وڅکلو، نوسمدلاسه يو پل شوق ئې په زړه کښ واويد، او هغه داو، چه اګر څه دورځی له خوا نوکريم، او دخپل دبادار دکارو په سر رسولو باندی مصروف يم، مګر ليده دی چه دشپی له خوا خپل هغه درسونه او سبقونه (چه په دی څو کلو کښ می په مکتب کښ لوستلی دی، او اوس له مجبوريتيا بيرته پاتی دی) بياشروع کړم، تر څو زما داڅو کلنی زحمتونه او خواری چه په مکتب کښ می ايستلی، او زما دمرحوم او غريب پلار پيسی په هغه باندی خرڅی شوی دی، ابته او خرابی نشی، او په پای کښ زه هم وکولای شم چه دهغی له فائدی ځنی له نن ښځه زياتی ګټی ځان ته په لاس راوړم.

اګرکه داکارهم سخت کارو، او دهرچا دلاسه نه وه پوره، چه دورځی او دشپی له خوا پورته مصروف وی، او يوه ګړی هم هوسائی ونه لری، مګر (مجيد) له هغو ځلميانو ښځه نه وچه هغوی له کاره زر زر ستړی کيږی، او په لږ څه کارکولو سره في الحال په چيغو شی او وائی چه ستړی ستومانه شوی يم او ضروردی چه اوس خولږ څه تفريح او تنفس وکړم، ترڅو زمادلاسه تللی قوا وی بيرته په ځای راشی.

په پای کښ (مجيد) ددی ضرب المثل په فحوا چه «لټو نکی، مونده ونکی دی» د خپل په دی مقصد باندی هم ورسيده او په يوه ليليه دحقوقو مدرسه کښ، وروسته له ورکولو دامتحان ځنی قبول شو، او په شپږ مباشتنی امتحان کښ کامياب ګرزيدلی عالی الاعلی درجه ئی وګټله او دده نوم نه يوازې دوزارت معارف په مخصوصه مجله کښ بلکه دښار په ګردور سمی او نيم رسمی او ملی اخبارو کښ، سره دعکسه ددده، په پښتو ليکو سره خپور، او په ګرد ومهمو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایو کښی مشهور اوویړانده شوه او ددی شهرت په اثر کښی ده ته دیوی لوئی حکومتی اداری لهخوا بلنه وشوه، چه دی هلته کار وکړی .

نو د ه هم له خپل بادارسره خدای پامانی کړی ، لههغی تجارتی مؤسسی څخه وتلی په هغی رسمی اداری کښی ننووت ، اوهلته ئی هم خپل مفوضه کارونه په داسی امانت داری او فعالیت سره تل انجامول ، چه دمربوطه اداری گردوآمرینواوماموړینو به د ( مجید ) دکار و اود اخلاقو ستائل او تمجید کاوه . اودی به پهدی صفتو سره نه غره کېدلو ، بلکه دی ستائنی بهدده په زحمت کشی او زیار ویستلو باندی ډیر اثر اچا وه اوده به لازیات کار کاوه اوخپل اخلاق او عادات به ئی هم لهپخوانه لاډیر ښه ښکاره ول . او د شپی له خوا به تل هغه د حقوقو لیلیه مدرسیته تللو ، او هلته په ډیره زیاته اندازه سره د خپلو استاذانو د مینی وړگرزېدلی، شاگردانو به هم ده سره ډیر محبت کاوه او ده هم ځکه چه پخپلو سبقو کښی زیار اوزحمت ویستلو ، همغسی به په امتحانو کښی هم تل اول نمبر ووت ، تر دی چه پهخپل زده ړوری ښه شهادتنامهئی ځانته حاصله کړله ، او ددی په اثر اود خپلی دښی سابقی په وجه سره دده معاش اورتبه هم اوچته شوه ، اوپهدی اصول سره دده ژوندون ورځ په ورځ ښهکیده ، اودده په سیوری کښی ، مور او ورورئی هم پههوسائی شول ، اود دوی کور د سعادت اود نیکبختی مینه وگرزېده ، او په بله ژبه هغه خوار او کمبخت ( مجید ) د خپل د زیار او زحمت ویستلو په اثر سعادتمن اونیکبخت شو ، اوپهخپل مقصد باندی همغسیئی چه غوښته ، ورسیده .

وروسته له دی څخه هغه کچنی کورنی د خپل د ژوندون شپی او ورځی په ډیره آرامی اوهوسائی سره تیره ولی او ( مجید ) د خپلی مور ډیر عزت اوخدمت کاوه او دومره ئی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړه سر ګه سره ورته کېښل، چه تقریبا ددی رضامندی او خوشحالی ګټل نی وروسته له نمانځه او روژی څخه خپل ځان باندی لکه د عبادت ګرزولی و، او هم دا رنګی به ګی د خپل د ورور (حمید) زړه هم تل پنه ساتلو، او د ده په روزنه او تربیت کښی به ئی هم ډیر زیات زیار ویستلو او شپه او ورځ به په همدی فکر کښی وچه دده په زړه پوری د ده ورور (حمید) په خپلو سبقو کښی مشغول وی ترڅو چه په امتحانو کښی کامیاب او په نتیجه کښی ئی د خپل د مکتب دوره پای ته رسولی د شهادتنامی په اخیستلو باندی بریالی شی.

## دوهم ټوک

خو کاله همدا سی په خوبنی او خوشحالی سره په دی کچنی مسعودی کورنی باندی تیری شوی او (مجید) خبر نګه چه د زیاتی کمتی خاوندو، او یو څه مبلغ پیسی ئی په بانک کښی هم در اودلی نو مور ئی دده د واده په فکر کښی ولویده، او په دی موضوع کښی ئی خپل زوی (مجید) سره مشوره وکړله. مګر (مجید) له دی خبری څخه سر وغړولو او وئی ویل چه زه اوس د خپل د واده د پاره تیار نه یم.

هو مور د چه دده مور په ده باندی په دی موضوع کښی زور اچاوه، او څو ځلی او په څوور څو او خو مجلسو کښی ئی په ده باندی د واده په نسبت اصرار کاوه، غیر له همغه د ومبنی ځواب څخه بل ځواب به ئی له ده څخه نه آوریده، تر دی چه وروسته له ډیر ګفتګوی او خبرو څخه (مجید) د خپل د زړه خبره خپلی مور ته ښکاره کړه، او وئی ویل چه زه غواړم ترڅو چه د (حمید) د مکتب دوری پای ته نه وی رسیدلی، زه واده نه کوم او وروسته له هغه به خپل ځان او خپل ورور ته یو ځای واده وکړم، ددی خبری په مقابل کښی دده مور ناچاره چوپه شوه او زیات له دینه ئی په دی موضوع کښی څه ونه ویل.

( حمید ) به په مکتب کښې په ډیر شوق اوذوق سره خپل سبقونه ویل او ضبطول ئې او خپله ( متوسطه ) دوره ئې په ډیر موفقیت او کامیابی سره پای ته ورسوله او وروسته له هغه د (طب) په شعبه کښې داخل شو. او د خپل د تحصیلاتو په ټولو دورو کښې په نورو طالبانو په هوښیارۍ او پوهنې سره مشهور و، او په ګردو شپږو میاشتنیو او کلنیو امتحانو کښې به تل اول نمبر خوت. او له ښلو ځلو څخه ئې زیات ، د خپل د مکتب د مدیر له خوا ، د افتخار او د لیاقت پاڼه آخستې وه.

( مجید ) به هم دده په باره کښې له هیڅ شي څخه پزوالي او سپمول نه کولو او د ( حمید ) ګرد تعلیمي ضروریات به ئې ( اګر که ډیرې پیسې به هم ورباندې لګیدلې ) سره برابرول او تل به په دې خیال کښې و، چه خپل دې کچنې ورور ته د ژوندون لاروروښئي ، او د ده حیات د بدبختۍ له تیارې څخه ، د سعادت او نیکبختۍ رڼاته ورو باسي. او هر وخت چه دا خبره دده په زړه کښې تیریده ، چه دی د خپل کچني ورور په نسبت ، د خپل د ورورولۍ لازمي وظیفې په ښه شانې سره انجاموي ، د خوشحالۍ او خوشبختۍ ځلا ندې به ئې په زړه کښې وبرېښیده ، او خپل ځان به ئې دجهان له سعادتمندانو څخه شمیره.

## هو ! هغه څوک چه خپله انساني او وجداني وظیفه پای ته رسوي څه عوض او بدله به له دې څخه زیات موي چه دخپل د هغې وظیفې پیژندلو په واسطه ، دنیوي او اخروي سعادتونه رسیږي ، او دخالق او دمخلوق رضامندي د هغې په واسطه سره لاس ته راوړي .

(حمید ) هم هر کله چه دخپل دلوی ورور دا مهرباني ، او دا روزنه ، او دا شفقت او دا لورینه لیده ، یوغیبي قوت او قدرت به ئې په زړه کښې پیدا کیده ، او روح به ئې خوشحالیده او په دې واسطه سره به ئې په ګردو سختیو او مشکلاتو باندې برې موندې کاوه او ټول به ئې خپلو پښو لاندې کړې ، دخپل دموفقیت په لورې تللو .

( مجید ) هم له دې خپل ژوندانه ځنې ډیر خوشحال و ، ولې چه دراودونکې دیوې مهرباني مور ښکه (فاطمه) او یو وظیفه شناس تابعداره خوش اخلاقه ورور لکه ( حمید ) و ، او دی هم له دې څخه څه زیات شی ته چندانې اړنه و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې چه سعادت او خوشبختي دومره ګرانه او سخته هم نه ده لکه چه ځينې کسان ئې تصور کوي بلکه هغه شيان چه مونږ د سعادت په لوري سموي زيات دي . بلې ! سعادتمن کېدل آسانه دي مګر تل سعادتمن پاتې کېدل سخت بلکه ستونزمن دي .

هو ! ( مجيد-حميد ) او ددوی مور ، دری واړه سره او س خوش نصيب او سعادتمن دي که ددوی دا سعادتمندی او خوش نصيبی تر ډېرو ورځو پورې پاتې شي .

ناڅاپه ددوی مور رنځوره شوه او په بستره کښې پريوته .

داوه ددوی د بدبختی لمړی منزل .

ددې رنځوري مور مرض ئې ډېر ورځنيدلو ، او دوی ، ددې په درد او دوږماندي ستړي ستومانه شول او ډاکټرانو به ئې ډېر خوش آمدي نه کول ، او ډېرې پيسې به ئې ښندلې ، دشپې او ورځې به لا لهانده او ګرځانده وو .

( مجيد ) به دشپې له اوري تر ګهيځه دخپلې دمور دچيرکتې په خوا کښې ناست و . او ورځې له ځې به خپل کار ته تللو او دمور خدمت به ئې ( حميد ) ته پريښوده ، ( حميد ) به هم دمکتب له تګه پاتې او تر شپې پورې دخپل دمور په خدمت کښې مصروف و .

( مجيد ) به دغرمې له رخصتی ځنې هم استفاده کوله او په يو ګړائې موټر کښې به ئې له ډاکټر او دوا سره په ولاړو پښو خپل ځان تر خپلې مور پورې رسا وه .

او وروسته ددې له کتلو او پوښتنې او دوا ورکولو ، او د ( حميد ) دلازمه هدايا تو ورکولو څخه بېرته به ډاکټر سره په موټر کښې خپل کار ته ورته ، او حال داوه چه زړه به ئې بالکل په خپلې مور پسې هم ډېر پخسيده ، او د ماز ديګر له خوابه هم وختې بيا په موټر کښې د خپلې د مور خدمت لپاره له لازمه دواو سره راتاو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو هر کله چه پښتانه وائی چه « نه کوی حبیب، څه به وکړی خوار طبیب » د دا کسرانو د دوا وو او دا د ( مجید ) الوند بلوند او الول،اود ( حمید ) زیارءاو زحمت هیڅ یوه فائده هم نی رنځوری ته ونه رسوله،او ددی متل په اساس چه« د گورشپه په کورکښ نه کیږی » وروسته د یو کال رنځوری اومعالجی څخه کمبخته (فاطمه) مړه شوه اوخپل دواړه ځامن ئی په ژړا او انگولا کښ کینول، ولی چه دوی دواړه وپوهیدلو، چه د دوی د نیکبختی پنگه د دوی له لاسه ووتله ، او پس لدینه دوی در په در اوخاوری په سرکیږی .

هو! مور داولاد په نسبت د رحمت فرشته او درأفت مجسمه ده او پښتانه وائی (هرهغه اولاد چه مور لـری نو نو رڅه غواړی او هغه کمکی چه مور نه لری نو څه لری ؟)

وروسته لدی چه دواړه و رونـه د خپلـی مور د تکفین او تجهیز او تدفین څخه فارغ شول او خپل کورته بیرته وگرزیدل، کور د دوی په نظرکښ لکه گور داسی ښکاریده،او پس لدینه چه د دوی مهربانه مور له دی کوره د مرگ په لار لاړه ، په دی کور کښ ناسته او ولاړه دوی ته چندانی خوند نه ورکاوه .

( مجید ) به ډیر لږ کورته راتلو او هغه هم فقط د خوب په وخت کښ .

او ( حمید ) به هم چپ له پخوا څخه چه دمکتب درخصتی سره جق په کور کښ حاضروه اوس پس له ماښا مه کورته راتلی او دی هم په دی گوښی کور کښ یوائی او یکسه ناست او ډیر به خپه و ، او ددی په ځای چه ( لکه پخوا ) د خپلو سبقو په ضبطولو بـاندی مشغول شی ، اوس چه په دی کور کښ راشی هك پك پاتی په یوی گوښی کښ چپ او خپه کینی او په راز راز فکرو او چرتو کښ ( چه تول به له اوهامو او خرافاتو ځنی ډك و ) لویـږی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتیا دادی که (مجید) ځان په رسمي کارو باندی مشغول نکړی، او (حمید) دور ځي له ځي مکتب ته لاړ نشي، نو دی خبری ښخه به ویره وه چه چیری لمونی نشي ولی چه چیی خیالات ار بیکاره اوهامو ددوی د واړو په ماغزو کښی ځای نیولی و.

د (مجید) په نسبت (حمید) ته به زیاتی اندیښنی او چتی خبری په زړه کښی لو یدی او د شپی له ځی کله کله ځینی جنون آمیزه حرکات هم ځنی لدل کېدل نو هر کله چه دی به په کور کښی یواځی ملاست و، څوك به دده په دی او ضاعو او حرکاتو باندی نه پو هید و، او نه خبر یدو، او له دی جهته به دی دواړو، ورونړ باندی به ورځی په ډیر ځند ید لو سره تیر ید لی.

## د ریم توك

(مجید) له یواځی تر ب او تنهایی ښخه ډیر په تنگ شو، او نور دی وچه لیدو نی شی، نو دځینی ملگر یو او دوستانو په مشوره، او د خپلی کور نی د ضرور یاتو په تقاضا سره مجبو ر شو، چه دواده کولو په فکر کښی ولو یږ ی.

ځکه چه په حقیقت سره انسانان گویا داسی خلق شویدی، چه په گر دو شیانو کښی دیوا و بل مر ستی ته اړه او احتیاج ار ی، او بی لدی اړ تو ب او احتیاج ښخه یواځی ژ وندون نشی کولای، او له همدی سببه وچه «آ د م» علی نبینا وعلیه الصلو ة والسلا م ور و سته له دی چه «دالهی» (ج) په خلافت سره ئی په ځکه کښی افتخار بیا موندلو، او پخپل دار الخلافت کښی کینا ستلو پس له هغه ځنی چه حضرت «جبرئیل» علیه ا لسلا م به د ده له حضوره ر خصتیده دی به له یواځی تو ب او تنهائی ځنی ډیر متأ ثر کیده، او د خدای تعا لی له مرحمته دده دمشغو لتیا ا و انسیت له خاطره بی بی «حو ا ء» علیها السلا م خلق شوه.

نو له د ی جهته (مجید) هم لکه نو ر و ځلمیا نو غو ندی ددی روحی احتیاجه ځنی متحسس شو، او د یو ی ښی ښځی انتخا ب پسی ولو ید ه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر دا کار ده ته‌خورا گران و، ولی چه‌مورګی مړه‌شوی وه، او بله‌کومه نژدی خپله او خپلوانه‌ګی هم نه‌درلوده، چه‌په‌دی لوی کار کښی (چه‌پښتانه‌ورته «دعمر سوهان» وائی) ده‌سره مرسته‌وکوی.

(مجید) ډیر وخت ددی کار په فکر کښی و، مګر هیڅ یوه وسیله او ذریعه به ورته نه پیدا کیده، تردی‌چه په خپلو همسایګانو کښی ګی یوی بوډی ښځی سره ملاقات وکولو، او هغه‌ګی په دی ضرورت باندی وپوهوله.

ګویاچه زړی ښځی فقط دهمدی ښوکارو دپه سرر سولو لپاره ژوندی‌دی لکه چه د (مجید) و ارهم په خطا لاړنه شو. ځکه چه هغه سپین سری همسایه دده دوا ده دپاره متوجه شواه.

داموضوع چه اول پلا دهغی سپین سری په‌نظرکښی ساده، اومعمولی ښکاریده، وروسته ډیره سخته شوه‌ولی چه (مجید) به داسی نجلی پسی ګرزیده چه د ده په زړه کښی وه، اودی بدی به چه د هری یوی نجلی صفت ورته‌کاوه، اوهویت به ګی دده ته و یل، ده به دهغی له کتلو، اوکړلو ځنی په راز راز پلمو او بهانو سره سر غړاوه.

هو! دنکاح په مقدس امرکښی ډیر احتیاط، اوډیر وړاندی، اووروسته کتل په کاردی، اوډیر زیات لازم دی چه تل ناوی د زوم په زړه پوری وی، اوپه‌داسی مواردو کښی دنورو کسانو مداخله نه یواځی بیځایه بلکه مضره‌اوبالکل چټی ده.

لکه‌چه‌ویل شول له یوی‌خوا (مجید) دنجلی په خوښولو کښی ډیر مشکل پسند اوزرزری واقع شوی و، اوله‌بل لوری به‌دنجنکیو پلرو او میندو هم له دی ځلمی څخه خپل ځانونه ژغورلو ولی چه‌په‌هغه اوله‌ور ځ کښی‌چه (مجید) هغی سپین‌سری ښځی سره په‌دی موضوع کښی خبری کولی نورو پرد یو ښځو ترشا دده ګردی خبری (چه دخپلی مفروضی

ښځې داوصافو په نسبت سره ئې بیانولی ) واوریدلی او هغه ئې لکه چه د ښځو عادت دی زرترزره په کلي او کور کښې خبرې کړلې په سر ددی دا متواتر انکار، او مخ گرزول د ( مجید ) د هر رازې ښې او ښائسته نجنې د قبلولو څخه داخبر لا ټینګه کړه چه ( مجید ) لوی کوی او په خلقو مسخرې جوړوی ، او که نه داسې ښځه چه پدې صفت سره ئې ستائې چیرته پیدا کیږي.

لکه چه ښځو به پخپلو منځو کښې ویل ، اودا خبرې ئې خوله په خوله کوڅه په کوڅه بلکه تردېرو لرې ځایو پورې رسولې وې ، ( مجید ) هغه سپین سرې ښځې ته ویلې و :

زه داسې ښځه اړوم چه ماسره په خوشحالۍ، او خپګان کښې تل ملګرې وی، په ژوندون کښې همیشه مرستې راسره کوی صبا او بیګا زما پخدمت کښې لګیا وی، زما زړه له هره حیثه ښه ساتې زما په کور او ورور بانډې فهم لرنه لرې زما د غمو او اندېښنو په لېږو لو کښې تل ډېر زیات زیار باسې . او د خپلې مهر بانۍ او عواطفو په غیږ کښې مې تل روزوی ...

له دې راز خبرو څخه یې زیات ویل او ډېرې نورې خبرې ئې هم لکه چه د ښځو عادت دی په دې خبرو پسې له خپلو ځانو څخه جوړې کړې وې چه ( مجید ) له هغو ځنې هیڅ خبر هم نه و پهر تقدیر سره ګویا چه ( مجید ) د خپلې ښځې په غوره کولو او انتخابولو کښې دیو مخصوص ذوق لرونکې دی چه د نورو خلقو له فکر و ځنې جلا دی .

دا مطلب زر ترزره ښکاره شو ولې چه هغې سپین سرې ده ته خبر ورکړلو چه یوه ښه جلۍ مې درته پیدا کړې ده ، او وروسته له هغه ئې ګرده قصه ده ته په ډېر شور او زور سره ووېله

« داسې نجلۍ ده چه مخ ئې لکه د څور لمبې سپوږمۍ او د واړه غټې غټې سترګې ئې توري ناغه داري، او توري نرۍ کږې ورځې ئې لېندۍ، او توربانه ئې لکه تېره غشي او سم قد ئې لکه سرو، او سپين غاښونه ئې د نور د ګلي په شاني، او د واړه شونډې ئې سرې لکه عناب، او ... او پلار ئې هم شته من دی . »

( مجيد ) په تلوار سر ددې سپين سرې ښځې له خولې ځينې خبرې اخېستې وئې ويل:

« مورکې ! داسې نجلۍ زما په کار نه ده »

سپين سرې ښځه له خوراتعجبه په چيغو ګډه شوه ، ولې چه داسې انتظارئې نه درلودلو چه له ( مجيد ) ځنې به د داسې پېغلې شته منې نجلۍ په مقابل کښې داسې ځواب واوري او اوس ئې چه دا خبره دده له خولې اورېدلې هم ده، بيائې هم يقين ور باندې نه راځې چه يو داسې حاجتمن مجرد ښکلې ځلمې ، د داسې يوې ښکلې ګلالۍ نجلۍ په مقابل کښې داسې يوه خبره وکړي ...

لږ څه وخت تېر نه و چه د ( مجيد ) اصرار اووينا و دا ښځه په اصلي مطلب باندې وپوهوله او ور وسته له هغه څخه هغه سپين سرې ښځه دهغسې نجلۍ په لټولو کښې ولوېده چه ( مجيد ) غوښته.

او س نو ښائي چه موږ و ګورو چه د ( مجيد ) ددې مخ آړولو سبب څه شي و؟!...

(مجيد) به تل فکر کاوه که له يوې شته منې کورنۍ څخه دې ښځه وکړي نو نه يوازې دده په واده کښې دېرې پيسې خرڅيږي بلکه تل به په هغه باندې د دوه ډېر لګتونه کيږي او ويلې به ئې چه په پای کښې به له يوه پلوه زه و نشم کولای چه خپل هغه پورونه چه په ما باندې زما د خواخوږي مور درنخو ري، او د ګور، او کفن په وجه سره پراته دي ادا کړم، او له بل لوري زما د ورور (حميد) په تعليما تو کښې ديېسې دنشتوالي په سبب سره ډېل او معطلي پېښيږي، او دهغه تعليمات ناتمامه پاتې کيږي چه دا دواړه کارونه ښه نه دي.

هو! (مجید) پهغوښته چه‌پهده باندې ترډېره وخته پورې دخلقو پوروی، ولې چه داخبره د ده د بې اعتباری اوسپکوالی سبب کېده، اوهم ئې په‌دې خبره باندې اورېته‌وه چه وروړلی دتحصیل له‌سعادت څخه ورو سته لدې څخه چه‌څو کلونه ئې زیار اوزحمت پهځان باندې اخیستی دی بې نصیبه پاتې شی، اوبیدې وخت کښې ،دخپل ځان، اودخپل و ر ور دخوراك، اوپوښاك اودخپل کور داستظاه لپاره مجبوروه چه‌خپل کورهم ودان کړی . . . تولکه ده‌دګرد وامورو غیر لدې څخه په‌بل صورت سردتوانئ نه‌شوی‌پیدا کولی چه‌دی پهیوه عاجزه کورنی‌کښې ورننوزی او له هغې ... وه ښائسته، اوپیمخی، اوتعلیمیافته نجلې ځان‌ته واده کړی .

...نه ئې کار سم شو . اوهغې بو ډی د ده‌ ته دده په زړه پورې یوه نجلې پیدا ... او دوه دری هفتې نه‌وی‌تیری شوی‌چه ګرد و کارو دده په زړه پورې صورت ونیو لواویه دی کچنی کورنی باندې چه عبارت وله‌دوه پښاو وروڼو‌ځنی یوه‌بله‌ښائسته‌او‌ګلالی او تعلیمیافته‌نجلې هم رېښه سوله چه دهغې ساری په‌هغې سیمه کښې لږپیدا کېدلو . . او دا کور چه تر اوسه پورې دیوه قبرستان په‌منزله‌ټپ اوتیاره ښکاریده، اوس دګلستان په شانې ښائسته شوی او یونوی رنګ او رونق ئې پیدا کړی دی . . .

یعنې ( مجید ) واده وکولو اومتاهل شو . اوخپله ښځه ئې کورته راوستله .
اودوی په ژوندون کښې نوی یوه دوره شروع شوله . له سرګردانی اوپریشانی ځنی ګرد خلاص شول دشپې له‌مخې به (چې له پخوا څخه چه ډېر کله به هېڅ نه راتلو . او که راتلو به هم‌فقط دخوب په‌وخت کښې به‌و) رراوډېر په وختې کورته راتلو . او درخصتی اودتعطیل په ورځو کښې به‌هم له صباځنی تر ماښامه پورې په کور کښې ناست و . که ریښتیا وویل شی ګویا چه اوس ( مجید ) دژوندانه په خوند باندې وپوهېدلو چه له خپلې پیمخې ښځې سره ئې چه نوم ئې ( حبیبه ) و، ناسته او ولاړه اوخبرې او اترې کولې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خاورم ټوک

اگر که (حمید) دخپل دتحصیل اوتعلیم په کاروکښی بخت او مصروف و، مگر د (حبیبی) راتگ دهغه په ژوندون کښی هم بی اثره نه و.

لکه چه ښځه د خاوند تعالی دیو لوی نعمت او رحمت په منزله ده چه هرچیری پښه کیږدی اولاس ئی ورسیږی هلته سعادت اوآرامی او هوسائی پیدا اودژوندون خوند ښرگندیږی ! ...

(حمید) دخپلی موردمړه کیدوڅخه راپسی دآرامی اودهوسائی مخ نه ودلیدلی. ولی همداچه (حبیبه) ددوی په کورکښی ننوته دده هم له بدبختی اورنځ او تکلیف څخنی نجات پیاموند.

که رښتیا وو یل شی گو یاچه دادواړه وروڼه سرد دیمخی (حبیبه) په خپل خونده ور ژوندون نوی ورگډ شوی دی. اوخپله هغه پخوانی بدبختی اوسر گردانی ئی بالکل له خاطره بهر کړیده...

مگر دی سره به څوك څه وکړی شی چه روزگارهیڅ یوشی پخپل حال باندی په قرار نه پریږدی، اوخوشبختی او بد بختی دواړه لکه ژمی اوودی او پسرلی اوخزان غوندی یله پسی زمونږ په ژوندون کښی ښرگندیږی اوهرشی اوهرڅیز زر ترزره دتغیراوتبدیل په معرض کښی واقع کیږی..

(c) ketabton.com: The Digital Library



( مجید ـ حمید ـ حبیبه ) دری واړه یوه کچنی کورنی سره ګرزیدلی دی . اودوی ډیر د په ډیره خوشحالی اوهوسائی سره شپی اوورځی تیره وی .

دورځی له خوا ( مجید ) خپلی نوکری ته ځی . او ( حمید ) خپل کتابونه تر تخرګ لاندی نیولی مکتب ته درومی . او ( حبیبه ) ددوی دوتلوڅخه وروسته په جارو کولو او د لوښیو په وینځلو او په ګنډلو او پخلی اونورد کورنی کارو باندی لګیا کیږی . . .

دیګا له اوری ( مجید اوحمید ) وختی کورته بیرته ورګرځی او په مجرد د ننو تلو په کور کښی د هغی دانتظام او ښائست ځنی خوشحالیږی او بیا دری واړه سره یوځای دغه چای په څکلو باندی ( چه عین ددوی دراتګ په وخت کښی ئی اوبه تیاری کوښیدلی وی او ـ ـ دلاسه دمیزی ) مشغولیږی او وروسته له اداء کولو دمانبام دمانځه دری واړه سره یوځای په یوه میز باندی دډوډی په خوړلو باندی پیل کوی . اویوله بله سره په عین خوراک کی خوږی خوږی خبری اواتری هم کوی . وروسته له ډوډی خوړلو او چای څکلو څخه دری واړه دماسختن لمونځ اداء کوی او وروسته له هغه به ( حمید ) له خپل ورور او ورینداری سره خدای پاماني کړی خپلی بلی خونی ته تلو او هلته به ئی دخوب تر وخته پوری خپل سبقونه اودرسونه ضبطول ، او بیا به ویده کیدلو .

پوهان وائی : هرچیری چه عشق اوهوسائی وی هلته به سعادت اوآرامی هم وی .

نو له همدی جهته وچه دوی دری واړه و بهیه ډیره مینه اومحبت سره ژوندون او ګذران کاوه . اویو له بل ځنی بیحده او بی اندازی خوشحال اوخوښ وو . اوداورځی اوشپی به ئی په ډیره هوسائی اوآرامی سره تیره ولی :

( مجید ) له خپلی ښځی سره لهحده زیاته مینه او محبت کاوه . او له خپل کچنی ورور ( حمید ) سره به ئی هم تل شفقت اومحبت کولو . اودوی دواړو به هم په ډیراحترام اومحبت سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



(مجید) ته کتلو او دده داوامر او داشارو په ځای راوړلو کښې به ئې زیار و یستلو . په تیره بیا (حمید) به د ځپل مشر ورور دومره تابعدار ی کو له چه تقریبا د عبادت منزلی ته ډیره نژدې وه .

ولی چه (مجید) نه یوائحی د ده بیاغلی مشر ورور و ، بلکه د شفقت او د مرحمت له لوری د ده ته د مشفق ، او مهربان پلار په ځای و . نو (حمید) به هم د خپل د (مجید) مشر ورور دوه غبرگی تعظیم او تکریم کاوه اود خپل د ورور له خاطره به ئې د خپلې ورېندارې هم ډیر عزت او احترام کاوه او د دې د گردو خدمتونو او اوامرو په ځای راوړلو کښې به ئې هم زیار و یستلو ، او بالمقابل دده ورېنداری به هم ده ته په درنه سترگه کتل ، او هغه لازمه خدمتونه چه بنائی یوه گرانه ورېنداری ئې خپل لیورته وکړی د هغه به ئې په ډیر اخلاص اومحبت سره په ځای راوړل .

لنډه داچه هغو دری واړو به یو له بله داسې مینه ، اومحبت سره کاوه چه له و راشخه د یو وجود په منزله په نظر راتلل ، اوهرچاچه د دوی داگرمجوشی ، اوگډلون ، او لورینه لید له، نودا به ئې په خیال کښې راوړ او ، چه دادری سره په دری بدنوکښې یوه ساه او یو روح لری .

## پنځم ټوك

هرکله چه د امتحان وخت نژدې کیدو . نو (حمید) به د ورځی له مخی په کورکښې پاتی کیده ، او خپل سبقونه به ئې تکرار ، او گرداڼول . ترڅوچه خپل ځان د طب امتحان ورکولوته سنبال کړی .

(حبیبه) به هم د خپلو کارودپه سرر سو لوڅخه وروسته د و زگاری په وخت کښې یوه نیمه شیبه د ده خونې ته ورتلله ددی خوا ، اودهغی خوا خبری به ئې کولی . او چتی چتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



به خندیده ، او خوار ( حمید ) به ګی له کاره ایسته . ځکه به ګی د ده په کتابو کښ لاس وهلو
او دهغو پاڼی به ئی دی خوا ، هغی خوا آړه ولی ، او عکسونو ته به ئی ځیر کیده ځکه به ئی هغه ټنی اسبابو ته چه
... یح د ضرورت پوره کولو لپاره موجود وه ، ورځبنی پتول یائی ورځبنی تبتول .
... یسی منډی وهلی ، او خپل اسباب به ګی بیرته ورځینی اخیستو ، او بیا به په پخپل
کار باندی مصروفیده - مګر ( حبیبه ) به یاورتله ، او په همغو اوبو به ګی لاس پوری کاوه ، او د
( حمید ) له پخسو لو ځینی به ګی لاس نه آ خیستلو .

د یر ځلی به د اسی هم پیښیده چه ( حمید ) به د دی د دی تو قو دلا سه په قهر کیده مګر دده
دی قهر به هیڅ یو اثر په ( حبیبه ) باندی نه کاوه ، بلکه هغه به لا خوشحالیده ، او دده
کنځلو ، او د قهر په مقابل کښ به کټ کټ خندیده ، او تیغ تیغ به ئی ورته کتل ، لنډ ه دا چه
... ی خوانی پیمځی ښځی به سره له عصبانیت ، او خپه کیدلو د ( حمید ) همغسی سپین ستر ګیا کو له

ځکه چه د ځوانی ښځی روح کټ مټ لکه یو زړه وړوز کی ښائسته
بوړا غوندی دی ، او همغسی چه بوړا ځان په راز راز ګلانو
باندی مینی ، او له یو ځنی پا خیدلی ، په بل باندی کینی
همداشانی ځوانی ښځی هم که څه قید ، او بست و رباندی نه وی
او پخپل سر آزاده وی همدا رنګی کار و نه به کوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



(حبیبه ) به هم تل د ( حمید ) په شا ؤ خو اکښې د بورایه شانی گر ز یده، او د(حمید) دمعا شرت،او له نا ستی و لا ړی څخه به ز یا ته محظوظه، او خوشحالیده ، او همیشه به ئی زیار ویستلو چه د ( حمید ) ستر گی ځا نته ور وا ړ وی .

همدا چه ( حبیبی) به لید لو چه ( حمید ) دکتا بو په مطا لعه کښې ډ و ب دی او یخپلو سبقو ښې مشغو لتیا لری ، نو له حده ز یا ته به خپه کید ه ، او ددی په کلمو کښې بهچا ړ ه گر ز ید ه ، او داسی ئی پهز ړه کښې سنجوله چهیا څیز ی، اود ( حمید ) گرد کتا بو نه او اسبا بونه په یو تنا ره کښې واچوی، اووئی سو ز ی چه دی ولی دیته نه گور ی او دی، سره خبری نه کوی چه تل خپلو کتا بو ته گو ری،او په هغه لیك،او لوستو با ندی مشغول دی.

په رښتیا سره ښې او پیمخی ښځی گردی همداسی عادت لری چه غواړی نو ر کسان ټول هغه شیان چه غیر له دوی څخه وی ، ایسته و غو رځوی ، او هیڅ و رته و نه گو ری ، او فقط همدی ته گو ری ، او تل دوی سره ښائی چه مشغولتیا ولری .

(حبیبه) هم په همدی عمومی حس کښې اخته وه . دور ځی څو ځلی د (حمید) خونی ته ورتله ، اوهغه به ئی له کاره ایسته ، اونه ئی پریښوده چه خپل مقصدته ورسیزی .

هر کله بهچه (حمید ) غو ښته چه دا په قراری، او د لا سا سره له خپل ځانه لری کړ ی هم نه کیده ، اوکه خپه کیده‌هم څه فائده ورځنی نه مرتبیده ، اوکه په قهریده هم په هغی‌پیمخی ښځی باندی دده قهر کوم اثر نه آچاوه .

دهمدې جهته دی چه اروپائیان وائی : (ښځې د نارینو

په نسبت لکه سیوری داډول دی، که نارینه له ښځې ځنې وتښتی ؛

نو هغه هم له ده سره روانه‌وی، او له تری جلا کیږی) .

نو هرکله چه (حبیبه) به د (حمید) دا بی پروائی ، او بی اعتنائی ته کتل ، ښځیلی سپین سترگی کښې به ئی لا زیاتوب کاوه ، او دومره ډیر ساعتونه به ئی له ده سره دده په خونه کښې په همدی لوبو او ښخولو سره تیرول .

دا هم باید وویل شی چه د (حبیبی) په زړه کښې یوه خاشه د بی وفائی او د خیانت نه ، د خپل دمېړه (مجید) په نسبت سره نه وه، او له خپل مېړه سره ئی بی نهایته اخلاص، او محبت درلود او په ده باندی ډېره رښېره او مهربانه وه او په دی اندازه سره ئی د خپل مېړه اطاعت، او تابعداری کوله چه له وراثتو یاد عبادت په منزله ښکاریده . له بل اوری دا هم له هرډ حینه‌شا کړه وه، او هرشی ورته رسیده ، او له خپلی ناستی او ملاستی څخه ئی هم څه شکایت نه لرلو .

نو بیائی له (حمید ) څخه څه غوښتل ؟ . .

( حمید ) ددی په‌نظر کښې داسی خوږ او محبوب و ، لکه د دی ورور ، او داسی مینه او محبت ئی ورسره کاوه ، لکه چه یوه خواخوږی خور ئی له خپل ورور سره کوی . او دا یو معمولی کار دی . هوښیارانو ویلی دی :

« د دوو ځوانانو زوح ، دیو او بل په نږدیکت کښې د آشنائی تاداو ږدی .

نو هرکله‌چه د آشنائی تخم د زړه په‌منځ کښې زرغون شی ، له‌هغه څخه‌د دوستی داسی نهال شین کیږی چه‌پای ئی معلوم نه وی ، بیائی چه‌داد دوستی نهال یو ه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ دعشق میوه ونیسی. او ممکنه ده چه په هغه به رومبنیو ورځو کښې له بې پروائي اوتندی ځنې وچ شي ، او ډېر ذاسې هم پیښیږي ، چه د دنیا حوادث هغه له ستي شخه وباسي دا دژوندن یوه یانه ده چه هیڅوك دهغې له دقائقو څخه خبر نه دي . »

(حبیبه) او (حمید) هم په اول ځل سره آشنایان و . مګر اوس د دوی آشنائي د دوستي تر مرتبې پورې رسیدلې ده . او داهم یو معمولي شي دی او چندانې په خپلو کښې مهم نه ګڼلی شي .

## شپېږم ټوك

یوه ورځ (حمید) یخپل ټولګي کښې سبق وایه چه له بانډې څخه یو غږ د ده غوږ وته ورسیدو . چه غوږئي ونیولو وائي وریدلو چه ورو ئي (محبـبد) له خپلې ښځې سره په زغرده سره سختې خبرې کوې او په یوه کورني موضوع کښې هغې ته سرزنښت ورکوي .

داموضوع کومه اوبه خبره نه وه . یوه معمولي خبره وه چه ښځه اومیړه په هغه کښې سره نښتي و . دا رازي لنډې جګړې هر کله دښځو اودمیړو په منځ کښې پیښیږي .

په رښتیا سره دارازې جګړې کټ مټ دهغې مالګې یا ترشي په منزله دي چه په کتو کښې ئي اچوي یائي د کوندرې په خوا کښې ایږدي ترڅو چه ذائقې ته ئي تغیر ورکړي او اشتهائي زیاته کاندي .

ولې چه یو رازې ژوندون اګر که په هوسائي اوعاشقي سره هم تیریږي سړي ژوبله وي . صاف او شفاف آسمان اګر که ښه ښکاري ، مګر که ډېر وخت هغه سې پاتې شي ، دخپګان سبب ګرزي دښځو اودمیړو په ژوندون کښې مختصرې جګړې داسې دي لکه په آسمان کښې وریځ چه کله کله د آسمان اولمر او دستوریو مخ پټوي ، او وروسته له هغه ځنې دلمر او سپوږمی او ستوریو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه وړونکی او ځلا ندی شعلی په تاك شنه او ر و ښا نه آ سما ن کښې
ډیری ښې ښکاریږی ، او زړه ونوته سروراوسترګوته نوربښی ، همدا رازی
دوستی اومحبت هم وروسته له کمکی جګړ وخخه لاتو دیږی اوزیات خوږیږی .
خیر له دی برخی څخه تیر یږ و :

د(حمید) تر ډیر و ورځو پوری غوږ ونه بریدل او ددوی طبیعتوا و خو یو ته بهمتوجه ومګر دخپل
ورورا وورینداری په منځ کښې ئی پرته له مینی او محبت او خوږ و ویناؤ څخه بل هیڅ شی نه آوریده.
مګر دا ا ، ځلی دی چه ددوی په منځ کښې جګړه پیښه شوی ده او ( حبیبی ) ته در ګرده
ری .

هر ڪله چه ( حمید ) د ( حبیبی ) دا سر زنښت و او ریده چه پله پسی دده ور ور
ههٔی ته ور ڪو لو . نو یو عجیب ا حسا س او ز ړ ه خو ږ ی دد ته د ( حبیبی )
په نسبت سره پیدا شو .

یو ناځایه به دده په زړه کښې دا خبره تیره شوه چه لـه خپله کوره و تلی زرتر زره دی
جګړ ی ته خاتمه ور کړ ی . . . نو له خپله ځایه پاڅیدلو . . . . بیا بیر ته پخپل ځای کیناستلو . . .
او فـکر ئی کولو . . .

یخوامووویل چه ( حمید ) دخپل مشر ورور (مجید ) ډیر تعظیم او تـکریم کاوه اودده
په زړه کښې ډ یر خوږ وه . نو اوس به و ګورو چه په د ی شیبه کښې د ی د خپلی خو نی په
ګوښه کښې یوانحی ناست دی په څه فکر و کښې ډوب تللی دی ؟ ! . . .

دده دزړه په منځ کښې یو پټ احساس او یوی نا معلومی مینی ځای نیولی و .

ښائی چه پخپله دی به هم له دی احساسه تراو سه یوری خبرنه و . ا و که کله کله به ئی
دهغی نښی هم پخپل وجود کښې لیدلی ځان به ئی په هغه باندی نه پوهو لو ا و د هغی په مخ
کښې به ئی پرده ا چوله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یې احساس څه شی و ؟

دی په دی باندی نه پوهیدو ! یا ګی نه غوښته چه ور باندی و پوهیږی ! یا ګی نشو ای کولای چه پری و پوهیږی !.

دا مهم او یې احساس چه مونږ هم تر اوسه پوری د هغه په کیفیت باندی خبر نه یو دعشق او د اضطراب ځنی یوه مخلوطه وه .

دعشق اوداضطراب په معنی باندی پدی ځای کښی و نه پوهیدو ؟

عشق دخیل دهغه مشرورور په نسبت چه پد ، باندی ګی دیرحقونه لرلو او دده په حق کښی دیوه مهربان پلار په ځای واودده دژوندون ګرد لوازم اوضروریات ګی برابرولو .

او یو داسی ورورګی و چه له خپلی ګټی سرډګی دده د سعادت، اود هوسائی ګرد لوازم مهیا کړی و نوځرنګه به ونی چه د یوهسی ورور په نسبت به عشق ،او مینه نه لری ؟ . . .

دابرخه تر یوحده پوری دیره ښه ښکاره ، او روښانه شواه . نود اضطراب په نسبت څه وائی چه دده دپریشانی سبب څه شی و ؟ . . .

تیاره تکی همدادی چه تر اوسه نه ( حمید ) ته څرګند شوی دی ، اونه مونږ وربا ندی پوهیږو ! . . .

( حمید ) لــه خوورځی پخوا په دی موضوع کښی ځیر شوی و چه ( حبیبه ) له خالصی دوستی څخه پرته بل یو نری احساس هم لری .

په اوله ورځ کښی چه دی خبری ته ګی فهم وشو، نو په ځان وریږ دیده، اودیر زیات پریشان شو.

دوهمه ورځ کښی ګی د خورا خپګان ،او پریشانی له لاسه د خپلی خونی ور، له دننه خوا ځنځیر کړلو ، او د خونی په یوه ګوښه کښی کیناستلو ، اودیر زیات نی وژړلو .

دریمه ورځ چه ( حبیبه ) دده خونی ته ورننوتله ، او دواړه سره مخامخ شول نو ( حمید )

سه لاسه باځبدلی په قهر، او کنځلو سره ئې هغه له خپله کوره وایستله، او ورځی بیا خپل ځان پسې مسخیر کړلو .

څلورمه ورځ ګېډه له کوره ووت، او تر تیر ماښام پورې بیرته خپل ځای ته رانه غی .

پنځمه ورځ د سر دردی په بهانه په خپل چپرکټ بانډی وغزیدلو، او په بستر کښې ئې ځان پټ کړلو مګر ( حبیبه ) د ده له خواڅخه نه اری کیدله، او تل به ئې د مرض د کیفیت پوښتنه‌تری کوله، او راز راز دواوی به ئې ورته راوړلی، او دده په خوله کښې به ئې په زور ور تویولی .

شپږمه ورځ د ( حمید ) په خیال کښې دا خبره ټینګه شوه چه دی پخپل ځان باندی غالب شوی دی، او دده د زړه قبضه دده په لاس کښې ده، مګر لږ څه شېبه وروسته بیا پریشانی غالبه ور باندی وکړله .

په دغه ورځ بیا دده د ورور، او د ورینداری په منځ کښې څه جګړه پېښه شوه، او دی چه د دی جګړې په وخت کښې د خپلې خونې په کنج کښې ناست و په ژور فکر کښې پریوتلی، او وروسته له هغه ئې وغوښتلو چه د باندی ووزی د خپل ورور په مقابل کښې د(حبیبی)طرفداری، او حمایت وکوی، په دی خیال کښې ئې پوڅو پلونه هم د وره په لوری واخیستل، مګر وجود ئې ناڅاپه وریږ دیده، او د ریږدیدلو په واسطه وچ کلک پخپل ځای کښې پاتې شو .

دده په زړه کښې دا خبره تیره شوه چه هر کله دده ورور ( حبیبی ) غوندی پوی ښځګلی او پیمخی ښځی سره هره ورځ جنګ وی، نو دی ښه سړی نه دی، په همدی واسطه دده په زړه کښې د ( مجید ) په نسبت لږ څه تنفر هم پیدا شو .

دا بد، او شوم احساس لږی ځلی دی چه د( حمید) په زړه کښې د خپل ورور په نسبت وګرزیدو مګر د خوښی ځای دی چه دا بد احساس زر د هغه له زړه څخه ووت، او بیالی چه لږ

څه اثر به ئې پاتې وي . مګر هغه اثر دومره لږ ، او ناچيزه وچه له هغه څخه هيڅ ويره او انديښنه نه کېده .

په هر تقدير سره (حميد) بيا خيال وکړ لو چه بايد ده دې له کوره ووځي که د (حبيبې) مرسته و نه کوي نو د خپل ورور مرسته خو به وکړي .

چه څرنګه دا خيال ده په زړه کښې تير شو ، زړه ئې په غرځنګ شو ، او په ټول بدن کښې ئې د ګوزڼ وهلې په شانې ريږدل پيدا شو . لنډه دا چه (حميد) له ډير فکر وهلو ، او درېدلو څخه آخر په تنګ شو ، او له کوره ووت مګر ده له وتلو سره جفت جګړه هم پای ته رسيدلې وه .

ده ورور له کوره بهر و وت ، او (حبيبه) له ژړا څخه خوځ محوځ ده په خونه کښې ننوته .

هغه (حبيبه) چه چپ له دغې ورځې څخه بهره وزخ د (حميد) په خونه کښې په خندا ، او اکاړو سره ننوتله ، او هيڅ ګله به ددې وچولې تريو ، او خوله به ګې په نه وه ننه اول ځلې دی چه په ژړا سره ننوتله ، او دده دوروله لاسه ئې پټې کولې ، او اوښکې به ئې له سترګو څخه تو يولې .

(حميد) چه دا وضعيت ته وکتلو ! ځايه ځکه ، او آسمان وربانډې وڅرخيدلو ، او بې اختياره له خپل ځای څخه پا څيدلې ، ددې په دلاسا کولو بانډې ئې پيل وکړلو ، او سرګې چه دده د چيرکتې په بازو بانډې ايښې و پورته کړ او .

په عين همدې وخت کښې دده په وجود کښې يو سخت ريږدل ، او ارتعاش پيدا شو ، او يوی مرموزې قوې به دې د (حبيبې) په لورې کش کاوه .

همغه قوه چه له ډيرې مودې څخه دده د روح په تيه تياره کښې پټه وه چه اوس ناڅاپه څرګنده شوی ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



لورئي و نشوى كولاى چه مقاومت وكړى . خيل لاسونه ئې ددى له مخ ، او سرخپه گرزول . لکه چه يوسور انكار دده په زړه كښې پل دى ، اختيار ئې له لاسه و ووت او خيل سرئي شكته كړى په ريښږد بداا او اضطراب سره ئې مخې كړاه .

او پخپل ځان باندې پوه نشو . يوه سخته لړزه اورعشه دده په اندامو كښې اوېدلې وه .

په همدغه حال كښې ئې احساس وكړلو چه ( حبيبې ) خيل ځان له دې ځخه په هغه خوا كش كړلو او حال داو چه دا نه ده پوهيدلى . ځكه چه دهغى په وجود كښې هم د (حميد) له لاس ورودلو ځخه همداسې يوه لړزه او ارتعاش پيدا شوى و . او له دې جهته بې اختياره د تشنج په حالت كښې له خيل ځايه هغې خواته غورزيدلى و .

دوه هك يك اوحيران او ساختلى سره ناست و . ( حميد ) يوه خوا او ( حبيبه ) بله خوا په دوه قدمه لرى فاصله كښې ولاړ او هغه ناسته وه .

ناچوپيدا او حيرانيا تر ډيره وخته پورى و زغليدله . ترڅو چه ( حبيبه ) له خيل ځايه پاڅيده او ورو ورو په لورى روانه شوله . او ( حميد ) له خيل ځايه هيڅ ونه خوزيده او هيڅ ئې ونه ويل .

يو ساعت وروسته كه څوك د ( حميد ) دخونې له خوا څخه تيريدى نو دده د ژړا غږ به ئې هرو مرو آوريده .

دده ولې ژړل؟ اوعلت ئې څه شي و ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوم ټوك

دشپې له مخې ( مجيد ) له نورو شپو څخه په وخت کور ته ورسيدو . او برابر د خپل ورور خونې ته ننووت ( حبيبه ) په خپله خونه کښې په يوه کار باندې بخته وه . د وی دواړو ورونو تر ډيره وخته پورې پخپل منځ کښې خبرې او اترې سره کولې .

( مجيد ) دهغې ځګړې په نسبت ډير خپه ، او پښيمانه و .

په پای کښې دواړه ورونه په اتفاق سره د ( حبيبه ) د خونې خواته ور غلل، ورتږلې و . دږړاغږئې دخونې له منځه آوريدو .

همدا چه (حبيبه ) دخپل دميړه اوليوره په ور تګ باندې وپو هيده ، په تلوار سره ئې دروازه پرانيتله، اوښکې ئې له خپلو ستر ګوڅخه پاکې کړې، او خپل اضطراب، اوپريشانې ئې هم په خو شحالې سره بدله کړه ، او د( مجيد) تر څنګه داسې کيناستله چه هيڅ پوښې ددوی په منځ کښې نه وی پيښې شوی .

په دې شپه هم لکه نورې شپې دې کچنې کورنې په ګډه سره ډوډې وخوړله او ، چای ئې وڅکولو ، او نمونځ ئې اداکړلو، او د بې بې خبرې، اومجلسونه ئې سره وکول .مګر دتيارې يو پټ عامل ددوی په منځ کښې دانبې ورځې، او شپې تر تهديدلاندې نيولې وی .

اصلی خبره موپرېښوده ، اوپه بله خوالاړو:

ومو ليکل چه ( مجيد ) په خپل هغه کار چه ( حبيبه )غوندې يوې ښکلې تابعدارې باوفا ښځې سره ئې جنګ کړی و ، سخت پښيما نه و ، او له همدې جهته ئې ( حبيبه) ته ډيره دلاسا ئې ورکړله، او عذرئې ورځنې وغوښتلو نو نه دې سببه ( حبيبه ) هم له زړه دده سره پخلا شوه ، او( مجيد) ددې خپلې بدخوئې دجبران دپاره يوه جوړه ډيراعلې بوټان (حبيبه)ته

له بازاره په گران قیمت سره واخیستلو، چه دهغو بوټانو له پښو کولو څخه وروسته (حبیبه) په دې اندازې سره خوشحاله شوه، چه گڼه هیڅ ئې نه وزږلې، او هیڅکله نه وه خپه شوې
اوس راشه چه وگورو چه په دې ورځو کښې په (حمید) باندې څه تیریږي؟

(حمید) خوار له هغې ورځې څخه راهیسې یو نوی شی په خیال وجود کښې لیده، او یو بل زور احساس دده په زړه کښې د (حبیبه) په نسبت پیداشوی و، چه دی دهغه له نوم څخه خبر نه و.
فقط دومره پوهیده چه د (حبیبه) د نژدې کیدلو په وخت، او د (حبیبه) دغږ د آوریدلو په ساعت کښې، او د (حبیبه) په خیال کښې راتلو ځني، بې اندازې نشاط، او محظوظیت، او خوشحالي ورته پیښیږي، او لدې شیانو ځني دده په زړه کښې غورځنگ، او په روح کښې ئې د آلوتلو علامې پیدا کیږي.

هر کله چه هغه له دې څخه زیات بل شی په خیال وجود کښې نه لیدلو، او هم نه پوهید و چه څه وکړي؟ نو چوپ به و.

ورو ورو داسکوت، او چوپتیا ئې په حیرت، او حیرانتیا باندې بدله شوه.
وروسته له هغه به ډیرې ورځې دخپلې خونې په یوه کنج کښې گوښې ناست و، او ترې ترې به ئې یو لورې، او بل لورې ته کتل.
په دوهمیو ورځو کښې به (حمید) له دې خپل حالت ځني په تعجب کښې وه، او ترا به ئې ورځني خوږله. ولې په تدریج سره ئې داترا خوږل، او تعجب هم ورک شو، او هر چیرې به لکه یو بت غوندې ورچ کلک ناست، او تیه تیه به ئې یو خوا ته کتل.

اخوه داچه په دې روحي بحران باندې یوه هفته مبتلا و.
یوه هفته تیره شوه، دده د روحي بحران دوره تمامه شوه، او هغه یې اور چه په دوه مینې شعله ئې او حته شوې وه دمیده زیاتیده، او تو دښت ئې ساعت په ساعت ډیر یده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نواوس یوه شو چه دی عاشق شوی دی، او په یوی داسی لوئی بلا اخته شوی دی چه هر سرئی غم دی، او په داسی یوه تیه تیاره کښی پروت دی چه «پاڅئی تری ورك دی» او یاد پښتانه دمتل سره برابر داسی یوځای کښی ولاړ دی چه «دی خوانه ئی ګړنګ او هغی خوانه ئی پړانګ دی». که دی دخپلی عاشقی درد دوا کوی برسیره پردی چه دد ښاشرمندګی او رسوائی او دعقبی باز خواست ورته پیښیدونکی دی ګویا دی له خپل مهربان، او ښاغلی مشر ورور سره (چه کټ مټ دده دپلار په منزله دی) پوخورا لوی خیانت هم کوی، او که دی فکر، او تصور یسی بالکل ونه ګرزی په زړه کښی ئی د (حبیبه) دعشق داسی کاری غیشی لګیدلی دی چه دهغه ایستل فقط د (حبیبه) دناز کی ګوتی کاردی، او دهغه پرهار علاج فقط د (حبیبه) وصل دی، اوبس.

کوم وخت بهچه (حمید) د خپل ورور دشفقت، او دمرحمت، او دپالنی، اودمهربانی مراتب پخپل زړه ښی ګرزول، اوچه بیا به ئی دخپلی عاشقی ددی نوی درد تصور کاوه نو دنیا به وربانډی ګرده تاویده، او خرخیده، او ویښتان به ئی زیګه شول اوجګ جګ به دریدل، اومصمم کیده بهچه بایده دی داچتی فکر، او داشیطانی حرکت چه دده دمشرورور په نسبت خورا در وند خیانت دی هرو مرو پریږدی.

او هرځله نی چه د (حبیبه) ملاحت او لطافت، او حسن، اوکرشمی، او دهغی عشق، او محبت په تصور کښی ورتلو، نولیده به ئی چه له دی ځنی هم رغیده نشته نو رار زار به ئی ژړل او غږی اوښکی به ئی له سترګو څخه بهیدلی، او ویل به ئی چه خدایا اخه بلادی رابانډی اوروولی، اوخه سخت تندردی رابانډی غرزولی دی.

خدایا استا دخپل حبیب په لحاظ، او خاطر سره یازما زړه د (حبیبه) له عشق، او مینی

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه خلاص کړي، یاز ماسره را څخه واخلي، او بې‌شرمومې مه شرموئ، او دنیاغلی ( مجید خان ) په مقابل کښې مې خیانت کاره، او متجاوز مه ګرزوئ .

سره له دا سې راز نارو او سورو د (حبیبه) محبت، او عشق دومره بانډي لا زیاتیده، از دهغې دمینې لمبه دده په ګرد وجود کښې بلیده ، او تل به ئې ستر ګې دوره په لوری ختلې وې چه دیوې حوا ، او بلې خوا تیریده و په وخت کښې ئې تل وینې، او غوږیې به هڅې ددې دغږ د اوریدو دپاره ځیرو ، او خپلې سو ګمې به ئې رابنکودلې چه ممکنه ده دهغې خوشبوئي ئې تر سو ګمو شي ، او ډیر خلې به دې په ( حبیبه ) پسې همغسې زغاست لکه چه ( حبیبه ) پخوا په دده پسې تلله او راتلله، او خواد مخواد به ئې کومه موضوع پیدا کړي هغې سره به ئې خبرې او تو قفي کوله .

او په عین هغه حال کښې چه دده حرکات به له حیرو ، او ټولو څخه متجاوز شوي وو په نږدې کیدل ، زړ تر زړه به ئې د( مجید) څیره په مخ کښې ..... او له لاس و پښو لوځنې به لرې کیده او د ورور ولۍ وضیفې به دهغه په ژبه ورته وویل ... ی (حمیده ) داچې خیال وه چه دنا او عقبی دخرابوی، او تازما خوا خوږی ورور یمخ کښې شرموی ، له سره څخه و باسه ! زما دحرم په نسبت. چه تا سره مې ډیرې ښې ګټې کړیدی ، تل امین، او وفادار اوسه .

که رښتیا اوری ! (حمید) هم همداسې غوښته، او همدابه ئې تل په زړه کښې و. مګر خوارځه وکړی، چه دده د زړه اختیار دده په لاس کښې نه وه. دده‌عنان، او واک دبل چا په لاس کښې و او بلا اراده به دا خطرناکه کسنده کښې ( چه پای ئې معلوم نه وه ) لویده .

دده میل، او خواهش همدا و چه باید و د ریږی ، او په دا بې سر او سامان چول او بیابان کښې نه ځي ، مګر بل بو لوی قوه چه عشق ئې بولي دی به ئې د شاله اوری ټیل واهه ، چه هله ! زر که لاړ شه ! در یږه مه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳۳

## اتم ټوك

( حبیبه ) هم د ( حمید ) په درد باندی اخته وه . هغې هم له دې غم انګیزه عاطفې ځنې ( چه د «عشق» په نامه سره یادیږی ) څه برخه لرله ، مګر ذاتی عفت ، او فطری عصمت ، او ډیره امانت ، او ډیر منی توب وفاداری ، ددی په مخ کښی یو لوی دیوال او د ټینګ سد په شانی ولاړو ، او د خپل زړه خبری ئی نشوی ښکاره کولای . نو یخپل زړه کښی به ئی په پټه سره غم کولو ، او رنځ به ئی ایستلو ، او په خوله به ئی هیڅ نه ویلو مګر داد پښتو دلنډی مفهوم به ئی تل په زړه کښی ګرزولو .

پټ مین یم پټ به ژاړم

پټی به او ښکی ګریوانه ته تویومه

د ( حمید ) خونی ته به اوس ډیره لږ ورتله ، مګر تل به ئی خپلی ځکی څخه ، د ده خونی ته کتل ، او دده ګرد حرکات او سکنات به ئی لکه یو ماهر عکاس د غور په سترګو سره لیدل ، او د هغو عکس به ئی یخپل زړه کښی ثبتاوه چه د نه لیدلو په وخت کښی له هغو ځنی استفاده وکوی .

د ( حبیبه ) په زړه کښی به وه چه خپل کار پسی لاړه شی مګر کار به ئی له لاسه نه ویوره . غوښتل به ئی چه له خپلی خونی ځنی بهرته لاړه شی ، مګر ددی په پښو کښی به قوت نه و چه پاڅیږی .

( حبیبه ) هم په دوه مختلفو حسو کښی لویدلی وه ، له یوه اوری «عشق» او له بل لوری «وظیفه» ددی په زړه کښی سره په جنګ و ، او هریو به خپل قوت او قدرت ښندلو تر څو چه بری مونده کاندی او ( حبیبه ) هغې خواته ورکش کړی . داخواره کی په دی منځ کښی سرګردانه او حیرانه پاتی وه ، او هیڅ نه پوهیده چه خپل لیونی زړګی سره څه وکړی؟ .

که کوم وخت به ( حمید ) له کوره بهر وتلی و ، نو ( حبیبه ) به دا نګړ او ئی دروازی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرگی نیولی منتظره ناسته وه، چه (حمید) به څه وخت بیرته راځی. همدا چه (حمید) بهنوت (حبیبه) به دغه له مخ ځنی تښتیدلی په کور کښی به پټیده او هلته به ئی سر په دوارو لاسو کښی نیولی زار زار به ئی ژړلی.

دشپی له مخی به چه دوی گرد ده ودی اوچ ئی لپاره سره تولیدل (حبیبه) به په ډیر مشکل سره خپل ځان اداره کاوه، او تر خپل واك لاندی به ئی ساته او په هره وسیله سره چه کیده ځان به ئی آرام ښکاراوه. د(حمید) حال هم دگډلون په وخت کښی کټ مټ د(حبیبه) په شان و.

(مجید) له یوی میاشتی څخه په ئیسی تل گوری چه دښځی رنگ ئی ورځ په ورځ تغیر مومی او مخ ئی تك زیړ آو ښتی دی او همداسی ئی دورور وضعیت هم ورځ په ورځ ورانیبژی مگر په سر باندی ئی نه پوهیدلو چه (حمید) باندی څه شویدی؟ چه ورځ په ورځ ډنگریژی او ضعف او نقاهت ئی آخری درجی ته رسیدلی دی؟ او همداسی حیران و؟ چه (حبیبه) ولی غمجنه ښکاری؟ او د مخ گل ئی مړاوی بریښی؟ او تل ئی دځوانی په بهار کښی دخزان اثر ښکاریږی؟..

په رښتیا سره داسکه لمرغوندی ښکاره وه چه هم (حبیبه) په دی ورستیو څو هفتو کښی ډیره غمجنه او پریشانه ده او هم (حمید) ورځ په ورځ خرابیږی.

(مجید) چه خپل ورور سره ډیره مینه لرله او هم ئی ښځه ورباندی ډیره گرانه وه د دی حال او تغیراتو له لیدلو ځنی ډیر حیران او پریشان و. دده په خیال کښی داسی راتله چه د(حمید) دپریشانی سبب خو به همدا وی چه امتحان ئی نژدی دی، او دی دغه له نتیجی څخه ویریږی. مگر د(حبیبه) دخپگان په علت باندی هیڅ نه پوهیده، او په تعجب کښی پروت و، او هر څو مره ئی چه په دی موضوع کښی فکر واهه په درك باندی ئی نه پوهیده - د څو ورځو له فکر و هلو ځنی وروسته دائی په چرت کښی راغله چه ښائی (حبیبه) به د کور له ډیرو کښناستلو څخه په تنگ شوی وی؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورو ورودا فکر د(مجید ) پهماغز وکښی فوت ونیولو ولی چه بل هیڅ یودلیل د(حبیبه ) دپریشانی لپاره دده په زړه کښی نه ورتلو اویه عین حال کښی دی خبری ته ئی ډیره تلوسه وه چه هر ومرو ښائی د (حبیبه ) د دی درد تشخیص په ښه شان سره وکړی

هغه وخت چه داوهامو سخته سیلی ، او دبدگمانی طوفان دچاروح پخپلو منگلو کښی ونیسی ، له هر لوری پریشانه فکرونه پههغه باندی یرغل کوی اوهجوم راوړی ، اوهغه خپل خوراسپك خیالات ، کټ مټ دحقیقت په صورت سره وینی . ترڅو چه د داسی وهمی اوچتی فکر و په سبب سرد ، له روحی پریشانی ځنی خلاصی پیدا کاندی ، نوله دی جهته پوهانو ویلی دی چه انسانی روح تههیڅ یوآفت لهتردید اوشك څخهزیاتضرر رسوونکی نه دی، اوښائی چه انسانان تل خپل ځانونه له شك اوتردید ځنی ژغوری .

( مجید ) هم په دی موضوع کښی دشك اوتردید له لاسه په ځان رسیدلی و . او آخرئی داخبره په زړه کښناستله چه ( حبیبه ) فقط د کورد کارو اود ډیری ناستی دلاسه ، دسل او ددق په رنځوری سره اخته شوی ده . نوله دی جهته ددی دعلاج په تدبیر کښی شو .

له یوی خوا د( حبیبی) کورنی کارونه دومره ډیر و ، چه یوه شیبه هم له صبانه تر بیگاپوری وزگاره نه وه ، اوله بل لوری ( مجید ) هم نه شو کولای چه خپله ښځه پوانحی بی له کوم محرم څخه پرینږدی چهچیری لاړه شی .

دامشکلات زرله منځه ورك شول . ولی چه د ( مجید ) په زړه کښی داخبره هم ټینګه شوی چه ( حمید ) بههم دامتحان له ډاره ځنی خپه وی ؟ اوشپه او ورځ ئی د خپلو سبقو په تکرارولو اوگردانولو سره خپل ماغزه گرزولی ؟ او داضعف اوناتوانی هم له ډیری مطالعی اودزیار ویستلو پهسبب ورپیښه شوی ده ؟ نوله دی جهته ( حمید ) ته هم گرزیدا اوتفریح په کارده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې خبره بانديې خبر نه و ، او نه پوهېدو چه کشر ورور ئې (حميد) له ډېر وورځو راهيسې له لیکلو ، او لوستلو ، او سبق ویلو څخه بیزار شوی دی ، او داضعف ، او ناتوانی او پرېشانی له بل لوری ورته پېښه شوی ده .

خیر ! (مجید) داسې یو قصد ، او اراده وکړله چه له دې په وروسته به د صباؤنی او ماښامنی له مخې (حبیبه) دده له کچنی ورور (حمید) سره لږ څه بهر ته درومي ، او وروسته له هغه گردش او تفریحه به دواړه بېرته سره رادرومی .

گویا (مجید) پخپل خیال کښې په یوه غیشی دوی ښکې ویشتلی یعنې غوښتل ئې چه په دې وسیلې سره له یو خوا (حبیبه) له پرېشانی او گوښې توبه څخنی خلاصه کاندی ، او له بل لوری ئې په زړه کښې خیال ورورته هم (چه په خپلو سبقو کښې له ډېرو زیارو یستلو څخه نا اسکار زهیر شوی دی) څه تفریح ، او فهم غلطی ورکړی ، او دا کار دده په نظر ډېر ښه ښکارېده .

یوه شپه په داسې حال کښې چه (حمید) پخپل کور کښې په ظاهر سره په مطالعه کښې مشغول و يعنې کتاب ئې پخپل مخ کښې پرانیستلی ، او ورته کتل ئې ، مگر فکر ئې لکه یو وحشی مرغه دکتاب له کور یو څخنی په تیښته ، او په یو بل عالم کښې الوتلو ، (مجید) ور باندې ننوتلی ورته وئې ویل :

زما جانه ! دومره زیاته مطالعه مه کوه ، چه روغتیا ته دې ډېر نقصان لری ! وروسته له دې څخه لږ ساعت چوپ شوی ، او په چرت کښې تللی بیا په خبر و شوی (حمید) ته ئې وویل :

زما دسترگو توره ! پیا څه نن شپه دسینما سیل ته لاړ شه ، چه پام دغلط شی ! "

اگر که (حمید) هیڅ نه غوښتلو چه له کوره بهر شی مگر دلږ څه فکر وهلو څخه په وروسته ، دخپل دورور له دې خبری څخنی خوښ شو ، او په زړه کښې ئې داخبره تېره شوه ، چه دې مشغولتیاته می تر اوسه پوری پام نه وه شوی ، و لی زه به تل پخواله دینه چه د(حبیبه) دمینی لمبی زما په وجود کښې نه وې بلې شوی ، دسبق په ویلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بخت وم ، او فقط څوڅلی سینماته تللی یم ، او اوس دادی چه د (حبیبه) دعشق په اورکښی سوزم ، راشه چه نن شپه سینماته لاړشم ، که خدای کړی وی گوندی چه هلته می لږ څه پام غلط شی .

نوزر پاخیده ، او دریشی ئی واغوستله ، او له خپلی خونی څخنی بهر شو . که گوری چه (حبیبه) هم خپل کالی آغوستی او ځان ئی سنبال کړی ، دانګړیه مخ کښی بهر وتلوته تیاره ده .

(حمید) ددی منظری له کتلو څخه نژدی وچه بیهوش شوی په ځکه ویرزی ، مگر په ډیر مشکل سره ئی ځان و نیولو ، مگر بیا هم دده په وجود باندی لړزش ښکاره و ، او غا ښونه به ئی یو په بل سره د اگیدل ، او لینگیو کښی ئی دریزږدیدا اثرمعلومیده .

په عین همدی وخت کښی چه (حبیبه ـ او ـ حمید) دواړه په حویلی کښی سره یوځای کیدلو (مجید) هم ددوی تر شا رسیدلی (حمید) ئی مخاطب وگر زاوه چه «زویه ! (حبیبه) هم ځان سره د سینماته بوزه ! .

دی لنډی گنډی جملی په (حمید) باندی خوراعجیبه تأثیر و نه وغورځول ، او دی ددی خبری له آوریدو څخنی په داسی یو حالت کښی واویدولکه چه داورعتی غتی سکروټی دده په سر او ځگر کښی اویدلی وی .

بیاڅکه ور باندی گرده وڅرخیداه ، او په سر کښی ئی سخت دوران پیدا شو ، اوکه په دیوال باندی ئی تکیه نه وی کړی ، هیڅ لری نه وه چه لنکس ئی خوړلی ، او لویدلی به و .

نا څاپه دده په زړه کښی داخبره تیره شوه چه ښا ئی زما وروړ به زما له دی معاشقی څخنی خبر شوی وی ، او اوس ئی زما درسوائی لپاره دانقشه روغه کړی وی .

زړه ئی غوښته چه یوه بی ترا چیغه ووهی ، او په ډیره زاری ، او خواری سره داحقیقت خپل خوا خوږی وروړ ته (لکه چه دی) هغسی رنگه څرگنده کاندی ، او د خپلی دیگنا هی او ځان ژغورلو په نسبت دده په مخ کښی قسمونه وخوری ، او واوړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر پخوا الدی شخه چه دی خپله خوله وخوزوی (مجید) وړاندی شوی له جیبه ګی یو شل روپګیز نوټ و یستلی ، اوده ته ئی ورکړاو اوپه یوه معمولی لهجه سره ګی ورته وویل چه « داهم واخله » .

ددی وضعیت ، اوخبری شخه فی الحال (حمید) وپوهیدو چه وروړګی لادده له عاشقی ځنی خبر نه دی.

سمدلاسه یوه بله لویه وسوسه ، او سودا - دده‌ورپیښه شوه ، اوهغه داوه چه‌که د ی او ( حبیبه ) په دی تیاره شپه کښی له دی ځایه عین تر سینماپوری لاړشی ، اویا په سینما کښی یوه موده سره یو ځای کښینی ، او بیا له هغه ځایه په نیمه شپه کښی سره بیرته را درومی مبادا چه له ده ځنی چپ له شریعت ، او انسانیت شخه کوم حرکت صا در شی،او ځان دذ نیا او آخرت په شرمو باندی وشرموی !

هغه غوښتل‌چه دخپل وروره نسبت وفادار اوسی او دده حرم ته ترخو ئی چه عقل اـو فکر په‌سر کښی‌وی ګوتی ورنه‌وړی ، مګرپخپل‌یاغی زړګی باندی ئی چندانی ډاډینه نه لرله .

هو! دی پوهیده چه انسانی روح دعشق اودبهیمی قوی په مخ کښی ډیر کمزوری او ناتوانه دی . اود هوسو او خواهشو په مقابل کښی کټ مټ د یوه میاشی په شان د سختی‌سیلی په مخ کښی دی . اوداخبره ورته معلومه وه چه هوس لرونکی زړه و حشی‌غر ځی غوندی له اسلامی اوامرو او اخلاقی تعلیماتو ځنی د ر ذ ائلو ورشوته تښتی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو له دی سببه د (حمید) زړه نه و ، چه (حبیبه) سره یوځای له کوره ووزي ، ځکه چه یخپل ځان باندی ویریده ، چه واك ئی له لاسه بهر نشی ، اودامانت داری او دوفاداری له حدوده ، بهربل کینبږ دی.

همداو هغه لاس ئی چه دنوټ دا خیستاو لپاره غز ولی و ، ور بیرته ئی کړ لو ، او په لړزیدلی غږ سره ئی ورته وویل : نه ! « زه نه ځم ! » .

(مجید) ورته وویل : « نوکالی دولی واغوستل ؟ » .

اګرکه دا سوال ډیره یوه عادی او معمولی خبره وه ، هر کله چه (حمید) خپل لاس او ینبی په دی ځای کښی ورك کړی و ، هرځو مره ئی چه په خپل فکر او ماغزو باندی زور واچو لو ، چه دخپل دنه تګ لپاره کوم بهانه اویلمه جوړه کړی و ئی نشوی کولای ، فقط دو مره ئی په زړه کښی تیره شوه ، که په دی موضوع کښی خه زیاتی خبری وکړی ، نه چه داپټه خبره ئی ښکاره ، یائی ورور ور باندی بد ګمان شی ناچاره ئی بیا لاس وروروزدکړی نوټ ئی ورځنی واخیست اوله (حبیبه) سره یوځای له انګره ځنی ووت.

(مجید) د کوځی تر آخره یوزی له دوی سره لاړ . اوهلته ئی په ورو چه (حبیبه) یوه نشوه خپل ورورته وویل : « په داسی یوه لاره تر سینما پوری لاړشی چه په هغی لاری کښی دخلقو ییراو بار کم وی ، اوتاسو په هوسائی سره لاړشی اوراشی اودتګ په وخت کښی د تل (حبیبه) ته پام وی . »

دی خوارنه پوهیده چه هغه یخپل لاس وازده پیشوته وسپارله ! یائی اوردبارودو تر خوا ولګولو !! اوږنده شوی تېشه ئی یخپله پښه ووهله !!!

خه به وکړی شی ددنیاقانون همداسی چلیږی ، اوسړی دداسی کارو په فلسفه باندی نه پوهیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخلقو عادت په دی باندی جاری دی چه له قضا او قدر ځنی شکایت وکړی او دبدبختی او مصیبت په وخت کښ له فلکه پښی ولری مگر په دی باندی نه پوهیږی چه تل دخطر او مه انسانان خپلو ځانو ته پخپلو لاسو سره تاوه وی. او هره هغه بدبختی او مصیبت چه نن چاته پیښیږی د هغه غفلت او دبی پروائی نتیجه گڼله شی چه پرون ئی کړی وه.

(حبیبه) او (حمید) دواړه سره یوځای له کوڅو او بازار و ځنی تیریدل، اوپه تولو لاره کښی په چوپه چوپتیا سره روان وو، او یوه هم له دوی څخه شو نه وی نه خوځیده هرکله چه له لوی بازار څخه چه هلته ډیر از دحام و تیریدل، نو دواړه سره ږدی شول ترڅو چه یو بل سره غلط نشی.

(حمید) د (حبیبه) په نژدیکت سره پخپل وجود کښ د اسی یوارتعاش او اضطراب محسوسا وه چه له نشاط او ډیر خوند ځنی روغ شوی و.

داا حساس چه مرکب وله عشق او اضطراب، او له ویر ی او تفکر څخه، (حمید) ته ئی دمد او جزر، یا قبض او بسط، یا خوف او رجا غوندی یو حالت بښلی و.

(حبیبه) ته به ئی څو کتل د عشق لمبی به ور باندی بلیدلی.

د دنیا رسوائی او د آخرت د پوښتنی خیال به ئی چه کاوه، و یریده به، خپل ورور ته به ئی چه فکر کاوه اضطراب به ئی زیاتیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که به لږ پهٔ دې باره مسئله کښې تحير کيږي . نو له حده زياته انديښنه او خورا ډيره ويره به ور ته پيښيږي .

داګر د مختلفه احساسات سره غونډ شوي، په ده باندې يو عجيبه حالت طاري شوی و چه له ليونيانو او شرابيانو سره ئې فرق نه کيده لو . لکه مست شوی او بيخودانو غوندې په لاره تلو . خپل واک ئې په لاس کښې نه و خو ځلې ئې له نورو تلونکو سره ټکر وخوړ لو يو ځلې نژدې و چه سخت په ځمکه باندې ولګيږي سرئ يا ني اورميږ مات شي بل ځلې ئې يا يو سخت کنګس وخوړ لو مګر آفرين دوی په ( حبيبه ) باندې چه ميړانه ئې وکوله، اوږ رئي له لاسه ونيو لو او ويرې ئې نه ښودلو چه ولويږي ... او که چيرې په هغه سرك باندې چه ګرد په ډبرو او پلنو پلنو تيږو باندې فرش شوی و، لويدلی وی، مړ به و .

د دې حالت له کتلو څخه ګردو تلونکو، دې ميړنی ښځې ته تحسين او آفرين وويلو او دې سړي سره ټولو کسانو همدردي کوله، او ويل به ئې چه خدای د دې ښځې ته خير او بركت ور كړي چه دا سړی ئې له مرګه څخې خلاص كړلو .

وروسته له دې څخه چه د (حبيبه) پاسته لاسونه دده په وجود باندې ولګيدل، او هغه له نژدې څخه د دې په بوی باندې متحسس شو، نو ژر څه په خود شو، مګر دده په ګردو اعضا، او پلو باندې داسې يوی برقي شرارې نفوذ، او جريان لرلو چه له خوشحالي او نشاطه څخې روغ شوی وه، په بله ژبه دده په وجود کښې دارازي وضعيت پيدا شوی و لکه چه د نرۍ وږمې له تيريدو څخه ديو لوی تالاب په مخ کښې له اوبو څخې کمکي کمکي څپې پيدا کيږي .

اوس نو بيا د ټينګيدا قوه دده په وجود کښې نه وه پاتې، او واك ئې بياله لاسه وتلی و . ولې چه بيانې پخپل زړه کښې هغه دده يوله بله مختلف احساس ليدل او چه عبارت دی له عشق

(c) ketabton.com: The Digital Library



اومینې ، او وفاداري ، او وظیفې ښځه ، اولږ څه شیبه تیره نه وه ، چه پیاهغه د واړه احساسات پخپلو منځو کښې په ښکاره شول ، او دهغه په وجود باندې بیاهغسې د مغلوبیت یو منظره ښکاره شوه ، او بیاڅې اراده له لاسه ووتله ، او نه پوهیده چه دده په ماغزو باندې څه تندر ولویده ، چه دی هیڅ نه پوهیږي ، چه څه وکړي ، او په کومه لار شي .

دی خوار په دی حالت کښې لکه هغه نازکه بوټه یا تنکي وچ شوا بوټه ، چه د سختې تندې سیلي د جریان په مقابل کښې پرېوتلې وي ، واقع شوی و ، او بې واکه قدمونه به ئې آخېستل او (حبیبه) سره لکه یو بیهوش شوی سړی ښکنګ په ښکنګ تلو ، او دتلو ښکو په ډله کښې به ئې ډیر ځلې له نورو خلقو سره ټکرونه خوړل او پرته له دې چه کله به ئې پښه ، او کله به ئې لاس ، او کله به ئې ، اوږه او کله به ئې سر ، او ټټر ، اوشا په ځینې شیانو باندې لګیدل او خوږیدل به ، اوبل لاس ئې کلک د (حبیبه) په نازکو منګلو کښې نیولی شوی و ، چه نه ئې پرېښودو چه ولویږي ، نور په بل شي باندې هیڅ نه پوهیده .

( حمید ) په دی وخت کښې په یو مرموز ، او مجهول وضعیت سره اخته دی . فکر ، او خیال ئې ډیر زیات خراب شوی دی . د محاکمې قوه ورنه ورکه ده . عقل ، او یو هنه تری هیره شوی ده . د ماضی ، او د حال ، او د مستقبل خبرې ټولې دده په ماغزو کښې سره غونډې شوی دهغه په مخیله کښې ئې یو عجیبه معجون ، او مخلوط روغ کړی دی ، چه دی خوار دهغه په سر ، او بر باندې هیڅ نه پوهیږي ، او ورد ، اولودن تری ورك دی . فقط په دی تیه تیاره کښې ئې کله کله د خپلې د مور ( فاطمې ) او د خپل ورور د ( مجید ) ، او د خپلې د محبوبې ( حبیبه ) څهره لیده له او په تیره د ( حبیبه ) مخ دده په نظر کښې د اسې ښائسته بریښیده چه په هغه باندې درنا یوه پرده ( لکه چه کله کله له سپوږمۍ څخه چاپېر د نور ښېول لیده شي ) اوید لې وي .

( حمید ) په داروحی شور ماشور او غوغا کښې په خپل وضعیت ، او موقعیت ، او تکلیف باندې هیڅ نه پوهیدو ، تردې چه په دې باندې هم نه و خبر چه دی ولې نن شپه له کوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتلی دی ؟ اودا ډیر مترقبه لطف، او مرحمت د (حبیبه) له اوری دده په نسبت ولی ښندل کیږی ؟ اودی څرنګه له (حبیبه) سره ښنګ په ښنګ، اولاس په لاس روان دی ؟ .

د سړك په اړ ته کښی چه هلته د خلقو بیړ و باډ لږ و، او رڼا ډیره لویده (حبیبه) ناچاره شوه چه (حمید) ودروی، او په سد ګی کاندی، نو وروسته له ډیره ننواو ځخه ئی (حمید) ته وویل : « زما عزیزه ! لږ ځان بید ارکړه چه چیری ونه لویږی، اوګوم ځای د بیاخوږ نښی اوکه د طبیعت ډیروران وی . رازه چه د سینماله سیل ځنی تیرشوی بیرته کورته لاړشو » .

سبحان الله ! ددی خبری یو عجیبه اثر په (حمید) باندی ښکاره شو، او سدلاسه ئی په خوب ویده عقل، او بوهنه له خوبه ځنی و یښه شوله، او په ډیره ژیر ستړګو سره ئی ولیده چه د (حبیبه) ترڅنګ لاس په لاس مخامخ ولاړ دی . سمدلاسه دده د وروره څېره هم د ده په مخ کښی ودریده، او زړ ئی بیا له حیا، او وفا، او دامانت له سببه سترګی پټی کړی . چه (حبیبه) سره سترګی په سترګی نښی ولی چه (حمید) ډیر یومسلمان، او باحیا، او شرمناکه ځلمی و . مګر په دی ډول کښی د عشق او مینی له لاسه لویدلی و، نو ځکه چه لږ څه پخود کیده د خجالت، او دشرمندګی احساس ئی په وجود کښی له ورانبکاریده .

ومو ویل چه مینی، او وظیفی د ده په روح کښی جنګ او شخړه سره اړله . یعنی د (حبیبه) مینه، او د ورورولی وظیفه .

هرکله چه مونږ غواړو چه زمونږ ښاغلی لوستونکی په دی موضوع باندی په ښه ډول و پوهیږی، نو دلته یو تشبیه یا یو مثال راوړو، اوهغه دادی چه دلته د مینی مجسمه، عبارت ده د (حبیبه) له وجودځخه، او د وظیفی مقصد، مطلب دی د (مجید) له ذاته ځنی ګو یا چه دادواړه کسان، دمیدم پرله پسی د ده په زړه کښی ښکار یدل، او بیا پټیدل .

د (مجید) څېره به ده ته په وظیفه پیژندلو سره توصیه کوله، او ځیل محبتونه، او روزنی او شفقتونه به ئی ور په یاده ول، اوله دځخه ئی د وفاداری اودامانت شعاری انتظار لرلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (حبیبه) څېره چه ددې په نظر کښې ښکارېده په خپل عجیب قدرت سره یې نور هرشی ددې له یاده ویستل.

اوپه دې وخت کښې به (حمید) دغه تږي په شان وه چه په سخته ګرمۍ کښې دیو خوړ رایغو اوبو دکاریز دوېالي په غاړه ولاړ وي ، او غواړي چه له هغو اوبو څخه لږڅه وڅښي او خپله تنده پرې ماته کړي . همدا چه او بوته لاس وړاندې کړي سمدلاسه یو سړی راشي او وېرې ګي نږدې چه اوبه وڅښي ، یعنې په مجرد ددې چه (حمید) غوښته چه (حبیبه) ته ګوتې وروړاندې کړي ، فی الحال ددې د وروړمخ ورپه یادېده .

بالآخره (حمید) مغلوب شه ، او وظیفې دمینې په مقابل کښې مقاومت ونشو کولی ، او د ځلمي توب احساساتو ګردنورشیان له منځه ورك کړل .

(حمید) اوس په ډېرو بدو خیالاو باندې مشغول دی ، او لکه هغه کسان چه دتبې په حالت کښې پرته پرته ویل کوي ، دی هم په چټې چټې فکر وکښې پروت و ، او هره ګړی به هرهرشی د ده په زړه کښې ګرزېدل ، او دلاسه ئې نه وه پوره چه دا فضول خیالات له خپل ځانه لرې کړي .

په همدې خیالو او اندېښنو کښې ډوب دسینما دروازې ته ورسېدل ، او (حمید) د(حبیبه) په ډو مېل او اشاره سره بیا له خپل چرت څخه وتلی اوزرګې دسینما داولی درجې دوه ټکسونه آخستې او دواړه سره لاس په لاس دسینما په خونه ورننوتل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نهم ټوك

(حبيبه) موهېره كړه ، راڅی اوس وګورو چه هغه څه حال لري ؟ . .

(حبيبه) هم د(حميد) په شاني يه‌يو عجيبه كشمكش اخته وه .

مګر ښځی داسی يو خاصيت لري چه دخپلو احساساتو په‌پټ‌ولو كښ له نارينو ځنی ډيري ښې دي ، اوپه دی كار كښ‌يوه‌خاصه‌ملكه لري . دښځی ضمير دسمندر بی پايانه سيند غوندی دی چه‌ډير طوفانونه، اوموجونه پخپلو ژورو ځايو كښ ساتی اوپه مخ ئی هيڅ يو اثر هم نه ښكاريږی په مياشتو او كلونو كښ رنځ باسی او زحمت په ځان آخلی ، مګر خپلی شونډی هم نه خوځوی . په راز رازتكليفو او ربړو باندی اخته وی ، ولی ددی له خولی ځنی يو آه هم نه وزی .

(حبيبه) هم عاشقه شوی وه . رنځ به ئی ويسته، زړه به ئی له غمو څخه ډك و ، مګر به خوله به ئی هيڅ نه ويلی ځكه چه داهم وظيفه شناسه وه او له‌وفاداری اوامانت داری ځنی ډكه‌وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پولوی تفاوت او فرق ددی او د ( حمید ) په منځ کښې هماغه تو پیر وه چه د ښځو او نارینوؤ په احساساتو کښې تل لیده شي ، او موږ هم هغه ته پاس اشاره وکړله ، او تر اوسه پوری پوهان ددی تفاوت او تو پیر په حقیقت باندې نه دی پوه شوی او که کومه ورځ هغه تیاره تمکی باندې رڼاواوبزی ، او داتوره وریځ دبشر د ژوندو ن له مخی ځنی ورکه شی . نو البته انسانان به یوقدم نورهم دسعادت او د نیکبختۍ په لوری درومی .

اگر که په ړومبنیو ورځو کښې دپرشانی نښی د (حبیبه)په څیره کښې لیدلی کیدلی ، مگر دانښې به دومره زری او ناڅیزه وی ، چه هیڅوك به دهغو په لید لو د هغی په هغه درد باندې چه ددی په زړه کښې پروت و ، نه پوهیدل . او چې له دی څخه که بهڅوك د(حمید)حرکاتو ته ځیر کیده ، نبه به پوهیده چه (حمید) د عشق لمبو وهلی دی .

هو! (حبیبه )هم د(حمید) په درد باندې اخته وه . اودهغه په شانی ئې غو ښتل چه په خپل اسلامیت اوامانت اووفاباندې ټینگه ولاړه وی .

نه ! اوس ددی خبری ځنی مخ آړوو ، اوسینما ته گوروچه هلته څه پیښیږی .

هغه فلم چه په دی شپه ښودل کیده ، دعاشقی یوډیر ښائسته فلم وه ... یوه گاډیوان یوه ښائسته ښځه پخپلی گاډی کښې کرا کړی وه اودسفرپه منځ کښې گاډیوا ن په دی ښځه باندې عاشق شواوپه هغه هوټل کښې چه دوی دشپی له مخی ښکته شوی وو ، دآشنائی تاړئی ور سره و غښ اوه ...

( حمید ) ددی برخی په لیدلوسره بالکل بی واك شوی و ، او دده احساسات داسی خوځیدلی و چه نژدی و هماته (حبیبه ) ته لاس ور واچوی او په غیږ کښې ئی و نیسی لکه چه په دی قصد سره له ځیل ځایه هم وخوځیدلومگرپه مجرددیاځیدلو دده فی الحاله څراغونه بل شول اودی هم بیرته کیناستو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بلې پردې ترشروع کېدلو پورې ئې په ډېر دقت او په ځیر ځیر (حبیبه) ته کتل مونږ نه پوهېږو چه په دې وخت کښې ئې څه خیال پلو و نه یخول، او په کومو کومو چرتو کښې ډوب تللی و فقط دومره پوهېدی شو چه دځامي توب تر تأثیر لاندې بالکل راغلی او نور گردشیان ئې هېر کړی و....

په دوهمه پرده کښې دگاډیوان معاشرت له هغې ښځې سره شروع شو او په بله شپه گاډیوان دهغې ښځې په چپرکټ پریوتلی ددوی دناستې او دملاستې منظره لیدونکو ته ښکاره شوه او وروسته له هغه ځنې بیا خراغونه بل شول.

ښاغلي! لوستونکي پخپله تصور کولای شي چه ددې مناظرو دلیدلو په وخت کښې به (حمید) په څه فکر کښې و، او د(حبیبه) به څه احوال و. ځکه چه دواړه ځلمیان، او دواړه عاشقان، او دواړه معشوقان واقع شوي و، او اوس هم څنګ په څنګ سره ناست دي، او داسې پېښې ته هم گوري.

(حمید) بېچاره دشیطان په لاس کښې ولوېده، او نور دمقاومت طاقت ورځنې ورك شو، او س دوظیفې دېېژندلو فکر ددهٔ په زړه کښې هېڅ نه راتلو، او غوښته ئې چه ژرتر ژره دسینما له خونې څخه ووزي. مگر دومره بې سده شوی وچه دخوزېدو طاقت ئې نه درلود، نو لاعلاجه همغسې ناست پاتې شو. بیا خراغونه مړه شول، او دسینما بله پرده ښکاره شوه په دې پرده کښې دعشق او عاشقۍ بدې قصې، او خرابې پېښې ښکارندې شولې، او دگاډیوان دهغې بد بختۍ، او تباهي مناظر ونبودل شول چه هغه ته دشهوت پرستۍ، او عاشقۍ له لاسه ورپېښې شوي و.

هغه ښځه ئې له لاسه ووتله هلك ئې په بخښۍ، او واورو کښې مړ شو، دی پخپله دربه در، خاوري په سر شو، او پای ئې معلوم نه شو، چه چیرته لاړ.

(حمید) په داسې چرتو کښې ډوب و، چه دی برخې ته ئې هېڅ فکر هم نه و، او هېڅ پوی ته ئې پام نشو او که ددې قصې آخر ته ئې فکر شوی وی، نو البته دده دعشق تود والی به لږ یده، او ددې هولناکه ځنکا مې په لیدلو سره به ئې ستر گې غړېدلې وې مگر هیهات او افسوس!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سینما نمائش ختم شو ، او گرد خلق بهر ته ووتل. دوی هم له سینما څخه ووتل. خلق په له په له هر لوری ته تلل ، او دهر چا تلیو ارو چه ژر کورته ورسیږی مګر دوی دواړه و ځکه ډیر خیالونو کښی ولاړه وو. مونږ نه پوهیږو چه دوی په څه فکر کښی وو؟ او کومه اراده ئی درلوده؟

لکه چه (حمید) د خپلو عواطفو په مقابل کښی مغلوب شوی وی ، او غوښتل ئی چه د خپل عشق اظهار (حبیبه) ته وکړی. مګر خجالت باسی. که رښتیا و ویل شی هم ئی خجالت ویسته او هم ویریده.

ولی چه د (حبیبه) له زړه څخه خبرنه وه ، او نه پوهیده چه هغه هم پخپل زړه کښی دمینی په درد بلا ندی اخته ده ، او دده د عشق سکروټی دهغی په زړه کښی هم لویدلی دی.

دویری سبب ئی داوه که څه وائی ، ورور به ئی دده په حال باندی خبر یږی ، او پټ رازئی ښکاریږی ، او په شرمو باندی شرمیږی ، او دده خبرئی له تصور څخه په ځان ریږدیده.

له بل لوری ئی غوښتل چه د خپلی معشوقی په نظر کښی خپل ځان پو لوی ، او باقصیده سری غوندی ښکاره کاندی. نو دده جهالتو په سبب ئی نشوی کولی چه د خپل زړه پټه خبره ښکاره کړی ، او بر سیره په هغه زړه ئی نه غوښته چه دخپل دوروریه نسبت سره خیانت وکړی ، او له ګرد و څخه بد تره داخبره وه چه که دی د خپل عشق ، اودمینی اظهار وکړی ، ممکن وه چه بیا به د (حبیبه) تښ کتل هم لاس نه ورکوی ، او بیا به دده دعشق په لمبو کښی لازیات سوزی.

لنډه دا چه (حمید) په هغه حال کښی چه درنځورانو په شان ځنګیده ، او له خپل حاله خبر نه و (حبیبه) سره ځنګ په ځنګ دکور په لوری روان شه.

کورته ورسیدل (مجید) ددوی په انتظار کښی ناست و. سم دتیرو شپو له عادت سره نن شپه هم دهغوی دوی په ګډه سره وخوړ له شوه ، او چای وڅکل شو. وروسته له هغه څخنی (حمید) خپلی خونی ته روان شو ، او حال داو چه هغه په دغه شپه داسی بدحال درلود لکه چه په خوب کښی دکابوس عارضه ورپېښه شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیمه‌شپه‌تیر وه‌چه‌د (حمید) چیغی پورته شوی ، ناری سوری به ئی وه‌ای (مجید) چه د (حمید) داشورا وماشور واوریده ، سمدلاسه د خپل خوب له‌ځایه پاځیدلی د (حمید) خونی ته ننووت او پښتنه‌ئی ورځنی وکوله چه « هلکه‌ولی ژاړی ؟ » چه گوری (حمید) پخپل چپر کټ باندی اوږ دغزیدلی اوژړل‌ئی .

( مجید ) چه‌تراوسه پوری خپل وروږ په‌داسی یوحالت کښ نه‌و ، لیدلی ، له‌دی وضعیت څخه ډیر خفه ، اومتعجب شو ، او راز راز پښتنی ئی له ( حمید )ځنی وکولی ( حمید ) دگردو سوالو په‌ځواب کښ ، الك همدا یوه خبره کوله : « نه پوهیږم ، په ځان نارو غ یم چتی چتی خوبونه وینم » . نوهرکله‌چه ( مجید ) ورباندی ډیراصرار وکولونو داځواب‌ئی ورته‌وو یلو : « مورمی په خوب کښ ولیده ، اودهمدی لیاره په‌ژړا شوم »

داخبره د (مجید) په زړه کښ کیناسته ، اوبیرته خپل کورته لاړ شو .

اګر که په دی وخت کښ ( حبیبه ) هم ورو ورو ژړل مګر (مجید ) چه‌د خپل وروږ په‌فکر کښ ډو ب تللی و ددی ژړاته‌ئی پام ونشو ، اوکه ددی په ژړا باندی هم‌پوهیدلی وی . نو هر و مرو به له دی پټ روحی ارتباط ځنی‌څه نه‌څه خبریده .

هو ! په رښتیاسره که داسی کیدلی چه (مجید) ددوی په‌اصلی درد باندی پوهید لی وی او ددوی داصلی رنځوری تشخیص دده له لاسه پوره کیدلی ، نو به داغم راوړونکی قصه داسی نه پیښیدله اوبل کوم شکل به ئی ځان ته غوره کړی و . مګر سړی څه ووا یی :

د جهان حادثات پخپل تگ کښ ډیر چابك اوګرځندی مشغول دی

اودده اود هغه اود نورو کسانوله خاطره دخپل د تګ لارنه چپوی

ځکه چه انسانان دجهان دحوادثو په مخ کښ کټ مټ‌داسی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه دونی هغه وچی او سپکی پاڼی چه دمنی په وخت کښی ئی باد هری خوا ته آلوزوی .

داشپه تیره شوه ... (حمید) په ښکاره سره آرام و... مگر دننه په زړګی کښی ئی اندیښنه ډیره زیاته شوی وه .

غم او اندیښنه داسی یو خاصیت لری ، چه دهغو دزیاتوب او شدت په وخت کښی غمجن سړی په ښکاره سره دیو آرام او عاجز او چوپ سړی په منزله ښکاریږی .

بلی ! دده دعشق اور ساعت په ساعت زیاتیده ، او ده دهغه په مقابل کښی غیر له صبر او طاقت څخه بله کومه وسیله نه درلوده .

انتظار ئی ویسته که کومه مناسبه موقع په لاس ورشی ، اودی دخپل دزړه په خبره خپلی محبوبی (حبیبه) ته ورښکاره کړی . اودی په دی باندی نه پوهیده چه (حبیبه) لا له پخوا څخه خبره ده چه دهغی دمینی غبشی ډیرپه ښه شانی دده دځگرپه ښیه لګیدلی دی .

دښځو لطیف احساسات ، دبرق دجریان په شانی دنارینؤ دروح په تیاره کښی خپل نفوذ آچوی . او په یوه کتنه سره ددوی په عواطفو باندی پوهیږی ، مگر دښځو په حال باندی پوره پوهیدل ، او ددوی د پټی مینی او عواطفو څخه خبریدل په ، کلو کلو انسانانو ته ممکنه نه ده .

په همدې صورت سره ډیر وخت تیرشو ... دامتحان ورځې په سرور سېد لې . ( حمید ) اړ وچه د ورځې له مخې له خپل کوره بهرته ووزي . اوددې یوائې توب په وخت کښې ( حبیبه ) ته ممکنه وه، چه دخپلې خونې یو کنج کښې مخ په دیوال کښېني، اوله خپل ځان سره ګړېدلې، او له خپلو ستر ګو څخه اوښکې توئې کړي .

د ( حبیبه ) لهدې احساساتو اوعواطفو ځنې ( چه پدې ورځو کښې ئې لرې، او دخپل دزړه دمینې په پټه لمبه کښې سوزي، اودمحبت دغم په کړانو کښې و ر یتیېږي او تلېږي ) ممکنه نه ده دمونږ قلم لکه چه ښائي هغسې څه ولیکلی شي ولې چه دښځې احساسات اوعواطف داسې مبهم اومرموز او نامعلومه وي، چه هیڅوك دهغو د ښکارولو، او په هغو د پوهېدلو توان نه لري .

دموسیقې په یوې سندرې-دساز اوسرود په یومجلس- دیوې نقشې په ښا ئښت- دیوشعر په لطافت- دیوې منظرې په وضعیت او بالاخر دیو دولت په سیاست باندې پوهېدل آسان دي، مګر دیوې ښځې دزړه په اصلې مطلب باندې پوره پو هېدل، له دغو ګردوڅخه خورا سخت اوګران کاردي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لسم ټوک

ناڅاپه (مجید) ته یو سفر ور پیښ شو اګر که د(حبیبه) او د(حمید) لری والی په ده باندی ډیر سخت تیریده ، مګر سره له دی دده تګ دیو رسمی حکم په سبب سره ضروری و . ولی بیاهم خوشحال وچه دی په کور کښی لکه ( حمید ) غوندی یو سرپرست وروړ لری چه دده په نشتوالی کښی ، به هغه له ( حبیبه ) سره وی ، او هم به د کور سرپرستی په ښه شانی سره کولی شی او پدی واسطه به د کورله لوری پوره ډاډینه لری .

هغه د خپل د سفر لوازم تیار کړل . او په هغه ورځ چه له کوره وخوځیده ( حمید ) ئی ځان سره تر موټر خانی پوری بیولی . هلته ئی تر ډیره وخته پوری له هغه سره خبری اواتری وکولی اوله اوله تر آخره پوری ئی په خوشوځلی د (حبیبه) په نسبت سره په هغه باندی سپارښت وکولو . (حمید) هم ده ته وعده او ډاډینه ورکړه چه له دی لوری بالکل خاطر جمع اوسه چه زه به زیات کوشش وکړم ترڅو چه (حبیبه) خفه نشی او (ستاسو نشتوالی په هغی باندی څه تأثیر ونکړی) .

**د دنیا لوبی په دی اندازه سره خندا راو ستونکی او په عین حال کښی ژړوونکی هم دی چه انسان د هغو په مقابل کښی نه پوهیږی چه وخاندی ؟ او که وژاړی ؟**

( مجید) په سفر روان شو . او وروستنی خبره ئی هم داوه چه « روګیه ! په حبیبه باندی د باید ډیر پام وی ، حمیده ! » . (حمید) هم د ده په ځواب کښی په ډاډینه ډکو ټکی لهجه سره وویل : « ددی له لوری خپه پوره خاطر جمع اوسه مجید لالا » .

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه وخت چه موټر راهی شو (حمید) تر ډیره وخته پوری هلته ولاړ و، او په موټر پسی او دهغه دوړو ته ئی کتل ، هرکله چه دهغه موټر گردی علامی او نښی د ده له سترگو څخه پناه شولی، نو دی هم په ډیره هوسائی او متانت سره له موټر خانی څخه وخوځید و . دی چیرته ځی؟ معلوم نه دی ! په څه فکر و کښی ډوب تللی دی؟ خدای زده ! . . .

نن له گهیځه تر بیگا پوری (حبیبه) په کور کښی یوازی وه ، ډیر وخت له شپی ځنی تیر و چه (حمید) کور ته راغی ، او برابر خپلی خونی ته ننووت ، ډوډی ئی نه وه خوړلی ، همغسی وزی پخپل چپر کټ باندی پریووت .

نیمه شپه وه چه د پښو څپه هار ئی تر غوږه شو . سترگی ئی چه وغړولی کتل ئی چه ډیوه بلیږی ، او دده په میز باندی کوندری غوړیدلی ، او ډوډی ور باندی پرته ده مگر هیڅوک هلته نه ښکاریده .

اول کښی ( حبیبه ) داسی انتظار لرلو چه ( حمید ) به د نهاری دپاره نن شپه هم لکه نورکله زما کوټه ته راځی ، نو هر کله ئی ولیدل چه هغه برابر پخپله خونه کښی ننووت ، نو دی هم زغرد و شو کولی چه هغه ته غبرگه کړی . خوځلی د ده د دروازی تر شا راغله ، او بیرته ستنه شوه .

( حبیبه ) خواره ویریده ، او پوهیده چه د ( حمید ) په زړه کښی څه څه شیان تیریږی ، او بیم ئی خوړلو چه ناځاپه دهغه د عشق مخزن ، او دمینی ذخیره زما د یوازی لپاره په سبب لکه باروت غوندی اور وانخلی ، او هغه تر خپل نفوذ لاندی رانه وړی .

له بل لوری پوهیده چه (حمید) ډوډی نه ده خوړلی . که ئی ناری وریسی وهلی له ده څخه ویریده . او که ئی پریښوده چه همغسی نهار څملی دا هم ورته ډیره بده ښکاریده .

( حبیبه ) په همدی تشویش ، او اندیښنه کښی تر نیمی شپی پوری ښخته وه . آخر ته ئی دا په فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې تېر شو چه د (حمید) ډوډۍ توده، او تیاره کړې او ورګې وړې هلکانو ورته پریښې دي او ډوډۍ ئې په پطنوس کښې اخښتې ورو ورو ورغلې دده دخونې دروازې ته شاو درېده، او غوږ ئې کېښود، هیڅ بوغږ ئې وانه وریده، نو ئې ورو ورو ورپرانیستله وئې لید او چه (حمید) پخپل چپرکټ پاندې غزېدلې دی. بو دا هم سوکه سوکه ورغلې، ډوډۍ ئې په مېز باندې کېښوده او خراغ ئې ولګولو، او وروسته له هغه ځنې هغې چه راغلې وه، بېرته ووتله، او د بېرته تګ په وخت کښې (حمید) ددې د پښو شرپهاری اورېدلې، له خوبه ویښ شو، او ډوډۍ ئې په مېز باندې ولیده.

(حمید) له خپل ځایه پاڅېده، او لاس و نه ئې وینځل، بسم الله ئې او یلې په ډوډۍ باندې کېناستو، مګر اشتهائی بنده وه، او هیڅ شی ته ئې زړه نه کېده، او یو سخت دردنیت ئې پخپلو ماغزو کښې لیده لو. لکه چه د خونې د چت نه د لنګر د ده په سر باندې آ جولې شوې وې پو ډري غږ لکه د غومسی بنګهار دده په غوږو کښې راتی، او له هغه سره ئې یو درد ناک احساس پخپل زړه کښې پیداوندلو.

از شبیه د ډوډۍ په مېز باندې فرار کېناست، او وروسته ئې قاشق، او پنځه وا خیستل او غوښته ئې چه په خوراک شروع وکړي یو ناڅاپي ئې دا فکر په ماغزو کښې ولوېدو، چه دا ډوډۍ (حبیبه) پخه کړې ده، او دا لوخي دلته (حبیبه) ایښې دي، او دا څراغ (حبیبه) لګولی دی په مجرد ددې خیال لاتو ګرز بدل دده په زړه کښې فی الحال له ځایه پاڅېده، او له خونې څخه بهر شو په کفش کن کښې ابز شبیه ودرېده و په خیال کښې ئې ور تللو چه د شپې په تیاره کښې دده حب چاپېر له وهمي اشباحو ځنې ډک دی څو دقیقې ئې د کور په حویلۍ کښې دې خوا او هغې خوا تګ راتګ کاوه هر کله به چه د (حبیبه) د خونې شا ته ورتلو، ځله به لږ څه درېده، او وروسته له هغه به ئې لیده ل چه یو غیبي لاس و تلی، دې ته ئې ښئې چه له دې ځایه دروه، او ولې درېدلې ئې؟ دا کار خو ځلې پر له پسې په عمل راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(حمید) له ډېر قدم وهلو څخه ستړی شو، او سر ئې په ګرزېدا راغی ګرد جهان ئې په سترګو کښې تیه تیاره شو زړه ئې په غړ ځنګ شو. ځنګنو ئې په رېږدېدا شول په غوږ وکښې ئې هم هغه د غومبسې د بنګهار آواز راتلو نو ځکه د حوض په خوا کښې کېناست او وئې لید، چه د شپې په تیاره رڼا کښې د تالاب اوبه رېږېږي لکه چه د انسانانو د هغه نا پایدار، او رېږدېدونکي خیالاتو پېښې کوي چه هغوی شپه او ورځ په کښې مصروف دي.

یو ځلې هم له هغه بنګهاري څخه یو آواز جوړ شو د خپل ذخت په لوري ئې وکتل او نه په ځېر شو، نو ورته ښکاره شو چه (حبیبه) زاړي په تلوار سره د دې د خونې په لوري روان شو، وئې لیدل چه ور ئې پورې و، ودرېد و. وئې غوښتل چه بېرته وګرځي مګر په پښو کښې ئې زور نه و؛ او نه ئې شوی کولای چه له هغه ځایه وخوځېږي، نو لږ ډېر ئې وکولو. د ژړا غږ زیات شو.

په دې وخت کښې چه د ده باندې د تشویش او د اضطراب حالت و. لکه چه یو نوی اور دده په وجود کښې بل شو. نه پوهېږو چه په دې وخت کښې په څه فکر کښې ډوب تللی و، او په دې خطر ناکه شپه کښې څه رازې مبهم خیالات دده په زړه کښې تېرېدل.

ښائي چه د دې قضیې په شاؤ خوا کښې به ئې فکر چلولو او ویل به ئې چه (حبیبه) هم...

ښائي چه پوهېدلې به وي چه هغه هم...

نو دوره تر شاو درېدو، او زور ئې ور باندې و واهه، ور خلاص شو، او دی د ننه په منډه ننووت. (حبیبه) ئې په تیاره غونډې کښې ولیده چه په خپل چپرکټ باندې ملاسته ده. یو واری دده په زړه کښې یو سخت ارتعاش او غور ځنګ پیدا شو، غاښونه ئې یو په بل سره لګېدل له سره تر پښو پورې رېږدېده، قوت ئې نه وچه خپله پښه دې په چپرکټ باندې پورته کړي، نو ئې وغوښته چه چپرکټ سره جفت په ګونډو کښېني. اولا سونه ئې د (حبیبه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوري اوزده کړی هغه پخپلې غېږ کښې ونیسی .

( حبیبه ) پاندی چه په عین هغې ژړا کښې اوس د خوب د دومې شومې پرېشانی راغلې ده د خپلې خونی د دروازې له پرانیتلو څخه ئې یوه سخته چیغه اوترا وخوړله . اسکه چه دی ونه پېژاندلو . او یوه سخته کړیکه ئې وکړله او ډېره زیاته وویرېدله .

( حمید ) هم له دې کړیکې څخه ډېر د ترا وخوړله ، او سمدلاسه ئې خوبله د شاپه خوا آخستی ، اوپیاد : پدلی قصدئې وکاوه چه د ( حبیبه ) تر خوا په چپر کټ باندی کښېنا ستلی د مدهوشی او سکر په حالت کښې چه دعشق له شرابو څخه . ورته ییښه شوی وه ( حبیبه ) ته لاس وغزوی او پخپلې غېږ کښې ئې ونیسی .

عین په همدی حالت کښې په خورا پرېشانی اواندېښنې سره ئې ولیدلو چه ددې دخونې په نیمه رڼا تیاره کښې یو سړی دده په نظر کښې راغې چه د ( حبیبه ) د چپر کټ په څنګ خوا دیوال سره ولاړ دی چه نه ورته څرګندوله او دقت ئې وکړلو ، نو ئې وپېژاندله چه دده متره رور ( مجید ) هلته رچ کلك ولاړ دی .

( حمید ) د خپل دوررور لهپېژندلو سره پیوسته یوه سخته کړیکه کړی وئې ویل « الله اکبر » او بیهوښه شوی هلته اسکه یومړی واوېده . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يوولسم ټوك

دلمر وړ نگی له کړ کیو ځنی په کوټه کښې لویدلی وی،چه (حمید) له خو به پا ییهوښی ځنی ویخ شو (حمید) په دی رڼا کښې خپلی ستر گی پرانیستلی، ډیروخت ئی لیونیا نو غوندی دی خوا، اوهغی خواته کتل، یوه الماری ئی ولیده چه کتابونه په کښې ایښی و، په بلی خوا کښې ئی یوه لویه هینداره اود وه پر دی ولیدلی اوپه بل لوری کښې ئی یو میز چه په شاؤ خوا کښې ئی څو چوکی ایښی وی، تر نظره شولی .

(حمید) داشیان گر د له خپل نظره تیر کړی همدا چه دافکر ده ته ورغی چه دی ولی له خپل چپر کټه دلته لویدلی دی او له خپلی خونی ځنی څرنگه دلته رسیدلی دی. اودیرونی شپی گردی خبری ئی یو په یو په یاد شولی سخته ستوما نی ئی په ماغز و کښې ورښکاره شوه، او بیائی چرت واهه لکه چه ما به پرون شپه چپتی خو بونه لیدلی وی. دی همغسی پخپل ځای باندی پروت و، اودیورته کیدو توان په کښې نه و.

لږ لږ د(حمید) فکر په ځای راتلو اودتیری شپی خبری په واضح صورت سره په یادور تلی اوپخپل ځان باندی به ویریده ، او لړزیده .

دی فکر چه دده وروردده په کمین کښې و ، از پرون شپه ورته پټ شوی و ، چه دده دخیانت منظره له خپلی سترگو سره پخپله ولیدلی ، او دده ددی نا کامه عشقی سرآ خر رسوائی ته ورسیدلو، ډیر سخت تاثیر ئی ورباندی وکړاو ، او له سره تر پښو پوری لمبی ورباندی بلی شوی .

په دی آرزو کښې و که حضرت عزرائیل علیه السلام ورته راغلی او ساڼی تری آ خستی اوسمدلاسه مړ شی ، دا به ډیره ورته ښه وی ، له دی څخه چه بیا خپل مشر ورور سره مخامخ شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تیره بیا چه دخپل دوروز محبتونه او شفقتونه او اورینه او مهربانی یو په یو دده په مخ کښې دریده او دهغو تولو په مقابل کښې ئې خپل داناوړه حرکت ته فکر کاوه، نو ډیر زیات به ئې په خپل ځان باندی لعنتی او ملامتی ویله، ګویا د ګرمتوب پولوی بار دده په اوږو باندې بارو. او دندامت او دانفعال احساس به، زیات آزار وررساوه.

مګر آیا اوس داپښېمانی او دا انفعال او دا ندامت ورته څه فائده رسوی، چه کار له کاره تیر شویدی، او وروړئی دده په دې بد کارپوهیدلی دی او دده دخیانت ننداره ئې پخپلو سترګو سره کړې ده. هر څومره چه (حمید) فکر کاوه د تیښتې لارئې نه شوی پیدا کولی. او نه دی لعنت ویلو او ملامت کولو څخه هیڅ یوه فائده نه ور رسیده. ولی چه اوښی ملت او غوړې توئی شوی وه. او دده در سوائی لکن له بامه اوبدلی و.

یعنی دده وروړ ورو سته له دې څخه چه دده له عاشقی څخه خبر شویدی، په داسې یوچل سره د شپی له خوا دده ته پټ شویدی، تر دی چه دی ئې ولیده چه د ده د ښځی خونی ته په نیمه شپه کښې ننووت، او دهغې چپرکټ ته ورنژدی شواز په دې صورت سره ئې دده له پټو خبرو څخه ځان خبر کړ او! نو اوس زه څه وکړم؟ او څه خاوری په سرباد کړم؟

دا رازی خیالات د (حمید) په ماغزو کښې تیریدل. او دی د هغه غرق شوی سړی په شانی ښکاریده. چه په او بوکښې ډوب شوی وی. او د ځان د خلاصی او د بهرو تو لپاره لاس او پښې غورځوی. سره له دې چه دی ښه پوهیدو چه دا ګرد فکرونه چټی او بیکاره دی. بل یو فکر دده په زړه کښې وګرزیدو. نو زر پاڅیدو. او خپل سرئې ښکته آچولی لکه غل د (حبیبه) له خونی څخه په مناوه وتلی خپلی خونی ته ننووت او هلته ئې خپل کالی اودریشی واغوستله، او په داسې پوشانی چه هیڅوک ئې ونه وینی، ورو ورو پټ له انګر څخه په داسې

ځان ئې چه سرګی تېټ آچولی و، بېرته وووت. وروسته له دې چه کوټې ته ورسېد و نو په منډو ئې
شروع کړې تر یو حده پورې ئې په تلوار سره ځان ورساوه نو هلته د ریډلی، خپله کالمه ګی
لوستلی، د هوسائي نفس ئې له خپله تمره ځنې وویست. مګر تر شا به ئې پسې کتل چه
څوك ور پسې شته او که نه؟

هر کله چه په دې خبرې باندې ئې ډاډینه پیدا شوه چه د ده پسې څوك نه ځغلي او ده
ته د هیچا پام نه دی، نو شکر ئې وویسته. او بیا دغه په شان د لارې په یوه خوا کښې
روان شو.

حمید اوچه تلو ځکې به په مخه ور تلل، ځان به ئې تر ګوښه کاوه. تر دې چه
دو تمر خانې ته ورسېد. او هلته په ژورو فکرو کښې ولوېده.

اګه چه (حمید) د تېښتې فکر په سر کښې لرې، او غوښتې چه د فرار په ذریعه ځان له خپل
کور او ورور ځنې پټ کاندې. مګر په دې باندې نه پوهېده چه چېرته لاړ شي؟.

فقط دا خبره ئې په زړه کښې ټینګه کړې وه. چه وروسته له دې ځنې نه ښائي چه خپل
ورورته ور په مخ شي. او له دې څخه زیات بل کوم یو مقصد ئې پخپل زړه کښې نه لرلو.
مګر د دې خبرې له تصور څخه چه دی به له خپل ښارځنې لرې لویدلی د مسافرۍ
او غریبۍ په مصیبتو اوړېږو باندې آخته کیږي، ډیر وبیریده.

نا څاپه یو غږ ئې له ورا څخه واورېده. چه ور ته ئې ځیر شو ولې کتل چه ډاګی دی.
د پستې موزع ده ته ویل: «حمیده! چېرې ګرځې. زه دستاسو کور ته تللی وم. تاسو
هلته نه وې.»

د ډاکخانې چپړاسي وروکی د دې جملې له ویلو ځنې وروسته له خپل بکسه ځنې د ده د ورور

(c) ketabton.com: The Digital Library



خط وویستلو ، چه دده ته ئې له لری یو ښار څخه په هغه پیرون ورلځ آستولی و. او نن ګهیځ دلته رسیدلی دی .او وروسته لدی څخه ډاګی خیال در سید اتو کتاب ده ته ورواندی کړی ورته وئی ویل چه « آغا ! ددی خط له رسیدلو څخه دلته لاس لیك وکړه .

« حمید » ددی خط په لیدلو سره هك پك اوحق حیران پاتی شوی دډاکخانی په کتاب کښی ئی امضاء وکړله .

پاکټ ئی واخیست عنوان ئی چه واوست ویوهیده چه دده دوړور پخطـ د لیکلی شوی دی. یوسخت اوسیلی ئی لهتره څخه وویست او پاکټ ئی وسیړ او اووئی اوستلو اوو یوهیدو چه ورورئی په اول منزل کښی همدا چه له موټره ښکته شوی دی دده اود (حبیبه) دډاکخانی لپاره ئی داخط لیکلی دی . اویه پسه کښی ئی چالان کړی دی .

داخط ئی خوځلی په خورا دقت سره واوستلو ، اووئی لیدلو چه په هغه کښی د ( حبیبه ) ډیر سپارښتن شوی و او داهم په کښی لیکلی شوی و چه باید پهنوروکورنی کارو باندی هم زیات پام لرنه ولری او مخصوصاً ( حبیبه ) د تل تر نظر لاندی لری چه خپه درځنی نشی .

( حمید ) لهدی اوبی څخه هیڅ شی باندی ونه پوهیدو کاغذ ئی بیا پهډیر دقت سره واوست اولاندی باندی ئی کړ ، او دده پاکټ تههم ډیر څیر شووئی لیده چه دهغه ښار دډاکخانی دباطل کولو مهرئی خوړلی دی چه لههغه ځایه داخط استولی شوی دی .

بهر تقدیر سره وروسته له لیدلو ددی خط څخه ( حمید ) له خپلی تبښتی اوفرار څخه ستون شو اوله موټر خانی څخه دښار پهاوری وخوځید اوور لځ ئی چتی پهدی خوا اوهغه خوا ګرځیدو سره تیره کړله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نژدې تیاره ماښام وچه (حمید) ستړی ستومانه وږی تږی بیرته کورته ورسید . دکورپه خوا کښې بیاشاك ورته پیداشو، نه چه خپل کورته ورننوزی او خپل ورور سره مخامخ شي .

بیائې همغه یا کټ له خپل جیب څخه وویست (چه له صبا راهیسی ئې هغه له ساه خلی ځنې زیات لوستی و) او بیائې ولوست او ددا ګځانی مهروته ئې دقت وکولو او بیائې کلك پخیلو منګلو کښې نیولی هلته ودریده او په یوژور چرت کښې پریوت مگر سره له زیات فکرکولو هم په دی معما باندی هیڅ و نه پوهید و .

نژدې نیمه شپه وه چه دخپل انګړ ددروازی ترشا ودریده، او په ډیره ویره او احتیا ط سره ئې دروازه ورووهله .

لکه چه (حبیبه) دده په انتظارکښې غوږ په آواز وه زرئې ورپرانیت او ځان ئې پوخوانیولی په یونری ریږدیدونکی غږ سره ئې وپوښتیدوچه تاسو چیری واست چه ډا ګی تاسو پسی ګرزیدداود (مجید) خطائې دسناسوپه نوم راوړی و؟ .

(حمید) ددی خبری په آوریدلو سره آرام شو . ولی بیائې هم زړه ډاډه نه و او هغه شو خیال دده په ماغزو کښې همغسی ناست و او داسی تصور ئې کاوه چه دالوبه دده د رسوائی او مسقرګی لپاره روغه شوی ده .

د (حبیبه) له خه تیر شوی برابر خپل کورته ور ننووت . ازوخت وروسته (حبیبه) ده ته ډوډی راوړله او دده په مخ کښې ئې کیښوده، او دستی بهر ووته . (حمید) ډوډی وخوړله او په بستر باندی پرېووت ، مګر ترصبا پوری ئې په سترګو کښې خوب نه و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ولسم ټوک

لمر ختلی و، چه (حمید) په داسې حال کښې چه ډېر پریشان او سرګردان او ستړی او ستومانه و، له خپل کوره ووت.

د (حبیبه) په خونه کښې هېڅوك نه و، ولې چه (حبیبه) بهر په حویلۍ کښې وه او له کمېځه راڅپې په خپل کورنی کار و کښې بخته وه ولې چه نن خپل پلار کره تلله. (حمید) دهغې خونې ته ورننووت او هر شی ئې په خو رادقت سره له خپل نظر څخه تېر کړ ل.

یو ناڅاپه له خورا تعجبه په چغو که شو ځکه چه دامشکله معما چه دده په ماغزو کښې ئې له څو شپو او ورځو څخه راڅپې ځای نیولی و، پخپله حل شوه.

یعنې دده دورور یو خورا لوی قد ښوونکی عکس د (حبیبه) دچپرکټ تر څوا دېوال سره ولاړ و.

هو! دا څېره د (مجید) وه چه ددنګ په وخت کښې ئې د (حبیبه) په خواهش سره هغه اخیستی او په یو ښائسته چوکاټ کښې ئې نیولی وه (حمید) خوار چه په هغه شپه ډېر ویرېدلی و علت ئې همدا و، چه دخپل ورور په دې قد نما عکس باندې ئې سترګې لګېدلې وې.

په رښتیا سره چه خیال پر ورماغزه تل داضطراب او دپرېشانۍ په وخت کښې دخیال او دحقیقت په منځ کښې فرق نشي کولای. لکه چه په (حمید) باندې هم همدا ټوقه شوې وه.

یعنې (مجید) ددوی له عاشقۍ او یو خبر و ځکه هیڅ خبر نه و، او هغه پخپل سفر کښې مصروف و. داشپان فقط د(حمید) واهمې یاوېرې له خپل ځانه روغ کړی و. او دا په مینه هم هغسې لکه چه وه پاتې وه او اوښې نه و مات شوی، بلکه روغ او غوړی هم هغسې موجود وه او ددوی دعاشقۍ اسرار لا چاته ښکاره شوی نه وه. نو هر کله چه هغه جتې خیال او واهمه (چه ددی ګردو وحشتو او وېرو سبب ګرز یدلی وه) له منځه ور که شوه، بیاهغه اور د (حمید) په سرباندې بل شو او له دې خبرې څخه چه دی غولېدلی و، او ورورئې لا دده په دې مینتوب باندې خبر شوی نه دی، ډېر زیات خو شحا ل شو. او دهغه مارغه په شان چه له لوی ځنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاص شوی وی. دا نګړ به حویلی کښ دی خوا، او هغه خوا ګرزیده، او د خوشحالی او د نشاط په جوش کښ به داسی اوضاع له ده څخه لیده کیده لکه چه بیرته د مکتوب دوری ته تللی وی.

په رښتیا سره چه (حمید) له ډیری خوشحالی څخه خپل سر له پښو څخه نه وای پیژندلی، او په اوچت غږ سره به ئی سندری ویلی. کله به د ننه کورته ننوتلو او بیا به د حویلی په چپ او چاپیر کښ ګرزیده، لږ شیبه به د حوض خوا کښ کیناستلی خپل لاسونه او مخ او ښپی به ئی وینځلی. او بیا به ئی باغچه کښ قدم واهه ګلان به ئی شکول، ونو سره به ئی غیږی ورکولی وروسته له دی څخه به بیا کورته ور ننوتلو، کله به ئی میز او چوکی او کتابونه په یو کنج کښ وطار وا او بیا به ئی هغه ترتیب وهړنګول په بل کنج کښ به ئی همغسی ترتیبات روغول.
دا ګړ د حرکات، او لوبی چه د (حمید) له اوری لیدلی کیدلی د خوشحالی، او نشاط نښی، او آثار و.

ګویا چه (حمید) خوار د دی زیاتی خوشحالی، او نشاط په مقابل کښ مغلوب شوی و او د هغه د تحمل طاقت ئی نه درلود.

هو که خوشبختی هم لکه بدبختی له اندازی څخه تیره شی د زحمت او د ربړی موجب ګرزی، او له همدی جهته وائی چه په هر شی کښ اندازه ساتل او میانه روی خوراښه ده.

په دی وخت کښ (حمید) داسی یو دوست، او یارته اړ و چه د خپل زړه د دی خوشحالی اندازه ورته ووائی، او خپل هغه موهوم خپګان چه څو موده پخوا جوړ ئی ورته ښکاره شوی و، او اوس هغه خپګان په دی خوشحالی سره بدل شوی دی ورته ښکاره کړی.

دا یو طبیعی امر دی چه انسانان د خوشحالی او د خپګان په وخت کښ غواړی چه له نورو سره کښینی، او پاڅی، او خبری، او

اتری سره وکوی او یو او بل سره وگډېږی، او خپل غم سپك او خوشحالی په هغه سره زیاته کړی. گویا په غم او ښادی کښی د خلقو ناسته او ولاړه په همدی فلسفه باندی بناده.

و مو وبل چه (حمید) غوښته چه د دی خوشحالی خپل مرا تب ځا ته ور ښکاره کړی مگر افسوس چه نن په کور کښی هیڅوك نه و او (حبیبه) هم خپل پلار کره تللی وه او دا یواځی توب او دی خوشحالی په (حمید) باندی زښت زیات اثر غورځولی و، او هیڅ نه پوهیده چه څه وکړی تو پخپل ځای به آرام نه کیناسته، او دا یو نیانو پېتانی به دی خوا، او هغی خوا گرځیده، دیوال سره به تیغ دریده، او د چمن په منځ به پراخ لویده، او په خیابانو باندی به ئی سر کښېښی وهلی، او دو به ځانگو به ئی تاو نه خوړل، او خپل ځان سره به پر ته پر ته غږیده، او په اوچته سره به کټ کټ خندیده.

همسایگان چه د (مجید) د مسافری څخه خبر نه و، او یو هیدل چه (حبیبه) او (حمید) هم په کور کښی دی. اول دا خبری او خندانه چند ان متوجه نه و، نو هر کله چه سور ماشور زیات شو گرد سره په بامو باندی غونډ شوی وئی لیدل چه په کور کښی پرته له (حمیده) بل هیڅوك نه شته، او (حمید) هم یعنیاو پرتو خبرو کښی داسی تو د راغلی دی چه آسمان او ځمکه نه پېژنی، او هیڅ ته ئی پام هم نشته.

نو له همدی جهته و چه ور وسته د (مجید) له راتگ څخه، گرد و همسایگانو ور وویل چه پر پالانی ورځ چه ته نه وی، او نه د کلی په کور کښی وه (حمید) لیونی شوی و.

آیا په ریښتیا سره (حمید) په هغه ورځ لیونی شوی و، له و، ؟

## د یارلسم ټوک

( حمید ) رنځور شو، او په بستر کښې ولوېده ( حبیبه ) به دده خدمت کاوه، دوا به ئې ورکوله، او پارېزانه به ئې ورته پخوله. مګر لەده سره به نژدې نه کېناسته، او وروسته له کېښودو ددواء، او پارېزانې څخه به سمدلاسه بېرته تلله، او لپاره ددې چه نباید رنځور په کور کښې یوازې وي، نو یوې ښځې ته ئې له همسایګانو ځنې دده دخدمت، او باخبرۍ لپاره بلنه وکړه، او ښائي چه ددې بلنې په نسبت به بل کوم مقصد هم ددې تر نظر لاندې و.

په هر صورت سره وروسته له راتلو دهغې ښځې څخه دوی په کور کښې سره یوازې نه وو. شپې او ورځې تېرېدلې او وروورو ( حمید ) هم مخ په روغتیا کېښود، او په عین هغه ورځو کښې چه ( حمید ) لږ څه ښه شوی و ( مجید ) هم له خپل سفر څخه بېرته ورسېدو.

اوس نو کارونه لکه پخوا غوندې بیا جاري شول، او ددوی ناستې او ولاړې هم هغه عادي صورت ونیولو.

امتحان شروع شو ( حمید ) دورځې له مخې بهرته درومي، خوك نه پوهېده چه دی چېرته ځي؟ او په څه کار باندې بخت دی؟

( مجید ) خیال کاوه چه دده وروړه امتحان ورکولو سره مشغول دی، او ښائي. چه همداسې به هم وه، وبه ګورو. ولې چه دا قضیه وروسته لدینه څرګندېږي، او دشپې او دورځې په تېرېدو سره به ګردشیان ښکاره اود ټولو کارو له مخې ځنې به پرده لرې شي.

ورو ورو دپښې مېنې دبحران دوره پای ته ورسېده، یعنې هغه دومېنې هیجانات او شورماشور اوتلوسه ورکه شواه.

هو! اوردبلېد و په شروع کښې له نورو اوګېو سره ګډ او تیاردښکاري. په هره اندازه سره چه دغه اوګې کېږي، اورمخ په ډېرنالي زدي اوتودښت ئې زیاتېږي. همدارازې دمېنې لمبه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پرده پسې ورځو کښې مرموزه او ډېره وي، او ګي او تیاره ئې زیاته وي. د شپې او د ورځې په تېرېدو سره دغه هیجان او شور ماشور لږېږي مګر قوت او زور ئې ډېر زیاتېږي. او په دې وخت کښې خوار مېن پخپل ژوندګي کښې د داسې یو سخت درد احساس کوي چه د اوږد د جبچلو په شان لړزوونکی او درد بښوونکی وي. غواړي چه چیغې ووهي مګر نفس ئې کوتاهي کوي. او وائي چه حال کمال خبري او مخ په چول او بیابان کېږدي، مګر جرئت ورته پاتې نه وي. په یوې بلې لمبې کښې د ده ګرد وجود سوزي، او دننه په زړه کښې ئې د سکروټو سورانګار بلېږي تعجب لا په دې کښې دی چه دی لا غواړي چه په همدغو لمبو کښې د سوزې او دغه زړه د په همدې سکروټو باندې وریتېږي. او نه غواړي چه یو ساعت دا سوی او دا تکلیف له دغه ځخه لرې شي. او که و غواړي هم امکان ئې نشته چه ورځني دغه لمبه او انګار ورک شي.

دې پټې مینې خپله دا دوره هم پای ته رسوله او په دې دوره کښې هم (حمید) او هم (حبیبه) دواړه سره سرزیدلي او یو اله بل ځنې لرې په سره اشک ریالدي ژړېدل مګر غیږ به ئې په یو ته نه وه.

دورځی اله مخې به (حمید) اله کوره بهر ته وتلو. دشپې اله مخې به هم ډېر ناوخته کورته راتلو او کله کله به ئې شپې هم بهر تېرولې. او په بله شپه به ئې چه ورور پښتنه ورځنې کوله چه هلکه تر ورن شپه ولې کورته نوی راغلی؟ چېرته وې؟ هغه به سمدلاسه دا په ځواب کښې ورته ویلې چه د خیال او مکتبي ملګری به کور کښې په علمي خبرو او اترو سره د مشغول وو. (مجید) به د دې اصولي ځواب په مقابل کښې هیڅ نه شو ویلی ولې چه دامتحان نږدې ورځې وې، او ګرد طالبان به داسې فرصت کښې همدا عادت لري چه یو بل سره ګډېږي او په عمومي او فني خبرو کښې سره مباحثه کوي او دامتحان دمقدمات سره تیاروي.

مګر دا به داخبره تحقیق طلبه وه چه آیا (حمید) پخپل دې ځواب کښې رښتونکی دی؟ آیا هغه په رښتیا سره دعلمي خبرو لپاره دشپې بهر پاتې کېږي؟ دا خبره به ورو ورو ښکاره یږي.

هر کله چه د مین اړی والی، او د عاشق فراق، د مینې لمبه زیاتوی، او د عشق سکروټی لا تازه کوی، نو د (حبیبه) هم د عشق درد او د مینې سوی په دې ورځو کښې چه (حمید) سره ئې کتنه، او ډیر ژر به ئې له هغه سره ملاقات کاوه، زیاتیده. مګر سره له دې درد او سوی نسبت پخوانه په ظاهر کښې ئې آرامه ښکاریده.

زمونږ په دې داستان کښې په یوه خبره باندې لا تر اوسه پورې تیاره پرته ده، نو ښاغلی چه دلته په هغه باندې ئې رڼا واچوو. ولې چه تاسو هم خواه مخواه دې نقطې ته متوجه یاست او تر اوسه پورې خدای زده چه څو ځلی به د تاسو په زړه کښې دا خبره تیره شوې وي؟.
آیا (حبیبه) عاشقه نه وه؟

ولې (حبیبه) هم مینه شوې وه! او د عشق په سکروټو باندې کړیده!!

نو ډیر ښه! (حبیبه) ولې د خپل د مین توب علامې نه ښکاره ولې؟...

تیره ټکی همدا دی چه اوس ئې مونږ ژر خه روښانه وو.

(حبیبه) ورو سره اندې څخه چه د خپلو احساساتو په مقابل کښې مغلوبه شوه، او غوښتل ئې چه د خپلې مینې او د عشق علامې (حمید) ته ښکاره کړي، فقط د همدې خبرې لپاره د خپل د عشق له ښکاره ولو څخه ئې سترګه ګیده، چه دا پوهیده چه (حمید) هم په همدې درد باندې آخته دی او بیخي همدا ده چه د دو مینې اقدام او میلان د هغه له اوري شروع شي، تر څو چه د ماغرت او احترام د هغه په زړه کښې زیات وي. مګر د (حبیبه) دا انتظار تر اوسه پورې بې ځایه نتیجې پاتې دی او (حمید) سره له دې چه د دې د عشق د اور په لمبو کښې سوزیده، مګر په دې فکر کښې ئې عملا تر اوسه پورې هیڅ اقدام نه دی کړی، چه د خپل مین توب اظهار (حبیبه) ته وکړي. همدا رازی (حبیبه) هم څو ځلی د مین توب تر تاثیر لاندې راغلې عزم او تصمیم او نیت به ئې کاوه چه د خپل د زړه خبره (حمید) ته وړ ښکاره کړي، مګر د لطافت غرور، او د نزاکت شعور، او د اوږنې او د معشوقیت دستور دې ته اجازه نه ورکوله چه په دې اظهار کښې اول پلا دا زغردو کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنده یو عجیبه مخلوق دی . که ئی له ډیری مینی سا ، تر ستوني پوری هم رسیدلی وی، بیا هم له خپل غرور او تکبر څخه لاس نه آخلی.

ځان کندن به کوی ، مگر نه غواړی چه دد ی د لوینی په تاداوکښی کوم درز واوېبزی . پخپلو پښو د قبر لحدته روانیږی ، مگر له خپلی خودپسندی څخه لاس نه آخلی . او تل غواړی چه د خپل شانئست او جمال په پنگه سره گرد جهان و یډری او گرد خلق خپل ځانته مسخر او تابعدار و گرزوی.

هو! د بنده په لاس کښی پرته له غرور ، او تکبر او خود پسندی څخه بله کومه مؤثره وسله نشته ده او څولک به وی چه د بنده د غرور د آسمان په مقابل کښی په خاورو باندی ناست نه وی او د بنده د تکبر او مغروری په مقابل کښی به تواضع او عاجزی نه کوی ؟ . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



(حبیبه) سره له‌دی چه‌د (حمید) دمینی په‌سکر وتو باندی تلیده، مگر په‌دی خبره باندی به‌ډیره زیاته خوشحالیده، اوخورا زیات حظ،اونشاط ورته پیښیده چه (حمید) هم‌ددی دعشق‌په‌لمبوکښی کړیده، اوهرڅلی به‌ئی چه‌لیده چه (حمید) خوار ددی دمینی په‌اور کښی سوزی، اوددی په عشق‌کښی بالکل ناقرار دی ډیره به خوښیده،اوخپل ځان به خورا اوی، اوډیرښکلی ورته‌ښکاریده اوقصد به ئی کاوه چه پخپلی استغناء، اوبی پروا ئی کښ‌باید چه کلکه،اوټینګه وی. ترڅو چه (حمید) دخپل دعشق، اودمینی اقرار یااظهار، اوعرض‌ددی دجمال، اوښائست په در بار کښی وکړی، اودائی په‌خورا ناز،اونیاز، اولوینی ،اوتکبر، اوغرور سره‌واوری.

نوآیا ولی (حمید) دا خپل عرض دی‌ته نه کاوه؟... ددی خبری‌علت مونږ‌خوا لدی‌ځنی خو ځلی لیکلی دی!.

په‌همدی صورت سره غوټی دوی میاشتی تیری شوی مگر داپته مینه ښکاره نشوه.

هو! ترهغه پوری چه(حبیبه) د(حمید) له‌مینی ځنی خبره نه‌وه پهره‌وسیله اوبهانه سره چه‌وهغه ئی دځان په‌لوری متوجه کړو، اوهر کله‌چه‌پوه شوه چه (حمید)هم د(حبیبه) دعشق‌په‌اورکښی سوزی، نواوس ورځنی لری گرزی، او غواړی چه‌دی وریسی ولځغلی، او وریسی وگرزی.

آیا په‌دی وسیله سره امکان لری چه (حمید) په(حبیبه)پسی‌منډی ووهی؟ آیا دی‌زغر دکولی‌شی چه‌دخپل دزړه درد(حبیبه) ته‌څر گند کړی؟... داخبره به وروسته لدی ځنی ښکاره‌شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خو ر لسم ټوک

امتحانونه ختمیدو ته نژدې شول . ( مجید ) انتظار او چه ژر تر ژره امتحانونه پای ته ورسیږي . ولې چه ددهٔ ورور ( حمید ) د تحصیلاتو دوره یې دې امتحان کښې تمامیده، او هغه د طب شهادتنامې یې اخیستلو سره کامیابیده .

( مجید ) پخپل زړه کښې د ( حمید ) د سعادت، او ښه والي لپاره خورا اوږدې اوږدې نقشې جوړولې ، او ویل به ئې چه او س به څو ورځې وروسته دده ورور لکه چه تر اوسه پورې په خپلو تعلیماتو کښې اول نمبر خوت په دې امتحان کښې به بیاهم اول نمبر شي ، او د ډاکټرۍ عالي الاعلی شهادتنامه به واخلي او بیا به یوه لویه دوا خانه به روغوي، او په هغې شفاخانې کښې به د رنځورانو او د حاجتمندانو علاجونه شروع کاندي ، او د هغې د حق المعالجې څخه به د مره گټه تر لاسه کوي چه زه به په لږ موده کښې نه یوازې د خپل او د هغه د کور د ضروریاتو نواقص پوره کړی شم، بلکه د ( حمید ) د واده او د کور سر رشته به هم په یو اصولي ډول سره وکولی شم .

( مجید ) ته ددې خبرې له تصور څخه زیاته خوشحالي او نشاط پیښیده ، او په وار وار شکرونه به ئې ایستل چه خدایه ! زه دستا ددې مهربانۍ او الطاف څخه ډیر خوشحال او شکرگذار یم چه زما هغه بدحال او بده ورځ دې په دا ښه ساعت باندې بدله کړه ، او دا سې باوفا او تابعداره او ښائسته ښځه دې راته بخښلې ده ، او دا سې قابل او هوښیار او باوفا او تابعدار ورور دې راته مرحمت کړی دی ، او په سر د هغه ما ته د هم لوی عزت ، او منصب او رتبه ، او معاش کرامت کړیدی ، او د مره مهربانۍ ، او لطف دې را باندې کړیدی چه اوس زه له هر شي څخه بېغمه یم ، او د کور ، او د بهر گرد کارونه مې په زړه پورې دي .

د امتحان شپې ، او ورځې په هغه ډول سره پای ته ورسیدې ، او ( مجید ) به تل د خپل ورور د راتلو نکې سعادت په فکر ، او چرت کښې و څو ځلې د سرا یو ، او د کو ټو ابدلو

لیاره ولاړ تر څو چه یوه ښه ماڼۍ د ( حمید ) د شفاخانی لپاره غوره کړی چه ( حمید )
وروسته له اخیستلو د خپلی شتها د تنا می لخنی هلته کار وکړی .

همدا وجه پس له ډېری پلټنی څخه ئی دښار په مرکز کښی یوه اعلی او ښائسته ماڼۍ په
ډېرو پیسو باندی دخپل ډاکتر ورور ( حمید ) د مطب یا شفاخانی لپاره په کرا سره
واخیسته ، او د هغی ګرد ابتدائی مقدمات ئی د (حمید ) په اتفاق سره برابر کړلو او تل
به ( حمید ) سره ددی نوی شفاخانی درا تلونکی رونق او رواج په نسبت خبری او اتری کولی.

اوس نو ددی نوی شفاخانی ګرد اوازم ، او ضروریات ، او ذخائر سره ټول شوی
دی ، او فقط د مجید خبری انتظار باسی چه د ( حمید ) شها دتنامه وروسته له لاس لیك
څخه ده ته ورسیږی ، او خپل ځان د ښار د نورو ډاکترانو په جرګه کښی داخل کړی ، او
په علاج کولو ، او دوا ورکولو باندی پیل وکړی .

دا یو ارمان او آرزو وه چه ( مجید ) خوار به تل کوله . معلومه نه وه چه آیا
( مجید ) به خپلی دی آرزو باندی کامیابیږی؟ او که نه؟ وروسته به ښکاریږی چه څه پېښیږی.

دسږ کال سالانه امتحانا تو نتیجی نه یوازی د معارف دوزارت په مجله کښی
بلکه په ګردو ورځپا ڼو کښی نشر ، او خپری شولی، او سم له معمول سره دکامیابو طالبانو
هویت ، او معرفی سره د عکسو دهغو چاپ شول . مګر ( مجید ) داخبار ودی برخی
دلوستلو په باره کښی ځان ته تکلیف ورنکړ ، ولی چه یو هیڅ چه ورور به ئی تل اول نمبر و اوس
که ډیر ناکام هم پاتی وی نو هرومرو به ئی دوهم، او دریم نمبر خو وړی وی .

په دی پور ځو کښی دا خبره دتعجب او دحیرانتیا ځای وه چه ( حمید ) اوس هم لکه پخوانی
ورځو غوندی تل خپه او پریشان ګرزی، نه به کوراونه بهر چا سره اختلاط او خبری کوی، تل
دهغه له سترګو څخه اوښکی بهیږی، او سترګی ئی تنکی سری بریښی، هره ګړی او هر ساعت ساړه
اوسیلی باسی ، او د خپلی ځونی په کنج کښی په یوه ژور فکر کښی همیشه پروت وی. که کوم ځلی له

کوره بهرته هم لحی نو له خپلو ملګرو او مکتبی رفیقانو سره هیڅ نه ګرزی چه نن او صبا به دی او هغوی ددی ښار له لویو ډاکترانو لحنی حسابیږی .

نو هرکله چه امتحان پای ته رسیدلی و. نو اوس د (حمید) دخپګان علت څه شی و ؟.. او ددا بوالحی توب او پریشانی څه سبب لری ؟...

دا سوالونه به تل (مجید) له خپل ځان څخه کول، تردی چه دده په فکر کښی داخبره تینګه شوله چه د (حمید) داوسنی خپګان علت به هم داوی چه به دی ورو ستنی امتحان کښی، دی عالی الاعلی یا اول لمبر ډاکتر نه دی وتلی او دخپلو نورو کاملیابو ملګرو لحنی شرمیږی چه ولی له هغوی څخه داځلی چپ له پخوا لحنی چه تل به اول لمبر او عالی الاعلی خوت، د وهم یا پنځم لمبر وتلی دی.

له همدی جهته (مجید) درو ز نامو کښلو ته متوجه شو چه وګوری چه (حمید) څو وم لمبر په امتحان کښی ختلی دی؟ چه دوسره خپه او دلګیر ښکاری .

مګر هغه اخبارونه چه دامتحان نتیجی به کښی ښکلی وی دده په لاس (ددی لپاره چه دهغوی د نشر لحنی څو ورلحی وتلی وی) نه ورتله. نو ناچاره شوی دیوا خبارادا ری ته لاړ او دهغه دکلکسیون شعبی ته ورننوتلی داخبار و مجموعه ګی به خپل مخ کښی کینود له او دامتحان له شروع څخه ګی تر پایه پوری ګرد اخبارونه په ډیر دقت سره له خپل نظره تیر کړل تردی چه خپل مقصود ګی پیامونده او په لوستلو ګی پیل وکړ لو .

اول نوم ګی وکتلو او دوهم او دریم او څلورم او پنځم ګی په ډیر دقت سره ولوستلو . او خورا زیات متعجب او حیران شو چه د (حمید) نوم ګی ونه لید، تردی چه لسم نوم ګی هم وکتلو او خورا زیات پریشان شو چه دده دوړورنوم هیڅ په کښی نه بریښیده.

نوګی بیا له سره هغه نامنویس ولوست، بیائی هیڅ شی نه موندلو .. دریم لحلی ګی خورا دقت او اهتمام سره ګرد نومونه سره ددوی د پلر ونومونو او مسکنونه او پیژندنه ولوستلو . مګر بیاګی هم کومه مثبته نتیجه ورلحنی وانه خیستله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



(دمجید) زړه سمد لاسه په غر ځنګ باندی پرې وکواو ، او زیاته پریشانی او اضطراب ور ته پیښ شو ، او ځکه او آسمان ور باندی ګرد وخرخیدل ، اوزنا ورځ و رباندی تیه تیاره شو له او هیڅ نه پوهیده چه اوس څه وکړی .

نو ابز شیبه ئی مدار وکو او او بیاٸی فکر تول کړی دکامیاب طالبانو دنومو نو په لوستلوئی بیا شروع وکواه .

نومونه ئی یو یوله خپل نظره تیر کړل ، او دهر نامه له لوستلوځنی وروسته بهئی خوښا نیی مدار کولو او چرت به ئی واهه نه چه لیکونکی یا نقل کوونکی یا دچاپخانی مرتبانو روزنامی مصحح په نومونوکښی څه تصرف یا غلطی کړی وی .

مگر سره له دی رازی دقت او تفکر کولو بیاهم پخپل اسمی متصد باندی و نه رسید . او داخبار په دی مخ کښیچه دفارغ التحصیل طالبانو نومونه لیکلی شوی وو نه ئی د ( حمید ) ار نه ئی د (حمید) په وزن او قیافی سره برابر کوم بل نوم مینده کړو چه وواٸی چه دا نوم د هغه په ځای سهوا یاشتباه لیکلی شوی دی .

بیائی دهغی روزنامی نوری صفحیاونوری شماری هم ولټلی مګر په هیڅ ځای کښیئی نه دتصحیح په ډول او نه دتعدیل په عنوان سره دخپل ورور په نسبت کومه سابقه یا کومه کرښه ولیده .

نوئی خپله کوته پخپلی خولی کښی ترغابښ لاندی نیولی خپل ځان سره ئی ویل چه داڅه قصه او داڅه توقه شوه . »

دروزنامی له اداری څخه لکه پوښتهٸی سړی چه ځکه او آسمان ورباندی حرخیدل اود تللو په وخت کښی به ئی کنګس خوړلو وروت ، او برابر دطبی فاکولتیپه لوری راهی شو .

په دی ورځ کښی هلته هیڅوک نه و ، ولی چه د کلنی امتحانو دختمیدو په نسبت په فاکولته کښی تعطیل اوګرد طالبان او استاذان اومستخدمین رخصت وو . یوازی یو تن پیاده د نوکری والایه ډول هلته په پیره بندی ولاړو .

( مجید ) دفاکولتی په صحن کښی دریدلی هغه پیاده سره په خبروشو او د ( حمید ) د حال اواحوال پوښتنهٸی ورځنی وکواه . مګر هغه پیاده خوار له دی قصوځنی هیڅ خبر نه و ، بلکه له سره ئی له ( حمید ) سره څه پیژندګلی هم نه دراوداه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته له دی ځنی چه ( مجید ) د ( حمید ) نښی او علامی ده ته وړښکاره کړی دقدا وقامت او کالبو او د تنګ صفتۍ ورته وکو او ، نوپیاده و خندل او وئی ویل چه : بس بس و می پېژند و ته هغه هلکی یې چه له بوی مباشتی راڅېسی مکتب ته نه راځی ، او نور هلکان وائی چه هغه باد ساره شویدی .

د پیاده دی لنډی ګنډی ، او ساده خبری په ( مجید ) باندی یو سخت اثر وا چاوه چه لکه مار له خپل ځان څخه تاوشوی ، او داسی ښکاریده چه په هغه باندی یو سخت تندر لویدلی وی ( مجید ) له خپل واکه ځنی وتلی سه دلاسه ئی په هغه پیاده باندی یرغل وکو او ، او غوښته ئی چه له ستونی څخه ئی ونیولی ځای په ځای ئی خپه کړی ، او ساه ئی وباسی . مګر هغه خوار پیاده ( چه هیڅ ګناه ئی نه وه ، او فقط یوه هغه رښتیا خبره ئی کړی وه ، حتی په ئی له طالبانو ځنی او ریدله ) زر په تیښته شوی ، او په کومه سوړه کښی ننوتلی ورځنی پټ شو .

دی کمبخت پیاده پرته لدی څخه چه رښتیا ئی ویلی و بله ئی هیڅ یوه ګناه نه لرله ، او دا رښتیا خبره د ( مجید ) په دماغ بده ولګیده ، او اوس غواړی چه دخپل د ګناهګار ورور قصه له دی خوار پیاده څخه اخستلی د دی متل مصداق ځان وګرزوی چه « زور ئی په خوا نه رسی نو کته به ئی وهی » .

که رښتیا وویل شی رښتیا ویل په ډیر و ځایو کښی انسانانو ته نخسان پیښوی دحدیث شریف مضمون دی چه :

( حق او رښتیا ویل خورا ترخه ، او اوریدل ئی په نادانانو باندی ډیر سخت دی مګر پوهان ئی زغملی شی ) .

نو لدی جهته مونږ ویلی شوچه دا پیاده ګرم دی ، او بایده دی چه ( مجید ) ئی له ستونی څخه ونیسی ، او په مخ مخ ئی ووهی چه ولی ئی له روغه وونکی دروغو ځنی مخ آړولی « جنګ آچوونکی رښتیا » ئی ویلی دی ، او حال دادی چه نه یوازی دشرق لوی مصلح او نابغه حضرت مولنامصلح الدین شیخ « سعدی » بلکه ګردو پوهانو ویلی دی :

( له جنگ آچوونکی رښتیاځنی، روغه وونکی او جوړه راوستونکی د زه غ په ځینو ځایو کښ ښه دی ).

مګر په حقیقت سره داپیاده باید ملامت، او ګرم و نه باله شی .

ولی چه دی کوم وزیر یا رئیس یا دعفور دصاحب نه و چه داسی فلسفو باندی پوه وی، بلکه دی یو خوار، او عاجز، او ناپوه، او عادی، او معمولی سړی وچه په اخلاقی مصالحو، او مفاسدو باندی چندانی نه پوهیده، او دعوام الناسو په دول به ئی تورتی او صافی خبری کولی، او یخیلی دی وینا سره ئی چه د(مجید) ددیرا صرار، او تفحص ځخه ئی وروسته وکوله، بل ئی هیڅ یو د مدعا او مطلب نه درلوده، بغیر له دی ځخه چه په واقعی حال احوال باندی (مجید) ویوهوی. ولی چه هغه خوار د(حمید) په نسبت همد ومره پوهیده چه له یوی میاشی راهیسی ئی په مکتب کښ نه ولیدلی، او د هغه ملګری په ویل چه «(حمید) خوار بادساره شوی دی »

مګر (مجید) ددی واقعی، او حقیقی خبری په اوریدلو سره دومره زیات په قهر شویدی چه که په دی پیاده باندی ئی لاس برشی نو ګیډه به ئی وشلوی. ولی ددیر شکر ځای دی چه په هغه وخت هغه پیاده ورځنی وتښتیده، او ځان ئی تری تم کړ او .

(مجید) وروسته له دی ځخه چه پیاده ئی بیانه موند، په ډیر قهر، او غصه سره له مکتبه بهرته و وت، ځمکه او آسمان ورباندی له ځیګانه ګرزیدل، او دنیا نه یوائحی ورباندی تنګه بلکه تیه تیاره هم شوی وه .

د مکتب په دروازه کښ ئی لږ ځه ډیل، او معطلی وکوله، او چرت به ئی واهه چه زه به خدای وهلی (حمید) چیری پیدا کړم چه دده دمکتب د نه ورتګ علت وزځنی وپوښتم چه دی ولی له یوی میاشتی راهیسی مکتب ته نه دی تللی؟ او په دی مهم، او عالی امتحان کښ چه دده، او ز ما په حق کښ دحیات نیژه یا دکیمیا نسخه وه ولی نه دی شامله شوی؟

وروسته له هغه بلا اراده روان شو، او څو ساعته لا لهانده. او کړهانده، او پر یشانه په کوڅو، او بازارو کښ یا ګلا نو او لیو نیا نو غوندی ګرزیده، او په دی فکر کښ به وچه

(حمید) پیدا، او بیا به داسې پښتنې ور ځنې کوله.

له دې ګرزېده او ځنې ئې پرته له ستومانۍ څخه بله کومه نتیجه په لاس ور نه غله، او په پای کښې ستړې ستومانه کور ته ولاړه.

په کور کښې یوازې (حبیبه) د ماښام په پخلي بوخته وه، او د (حمید) هم ځله څه پته او نښه نه ښکاریده (مجید) د (حمید) د کور د لټولو څخه وروسته بې له کومې معطلۍ او د پل ځنې سمدلاسه له انګړه دده د پیدا د لټولو په قصد بهر ته ووت، او په زړه کښې ئې دا خبره ټینګه کړه چه شرو مرو باید زه (حمید) پیدا کړم، او دا خبره د ور سره سپینه کړم.

اوس نو ښائي چه مونږ هم له (مجید) خوا سره مرسته وکړو، او د (حمید) لږ څه پته او نښه (که ممکنه وي) ور ته پیدا کړو چه دې خدای وهلي او رسوا شوي چیرته تللی دی؟ او په کوم کار کښې بوخت دی؟ چه هیڅ پته ئې نه ښکاري!...

(حمید) په سهار د ورځ صباۍ ګرځېدو له خپلې خونې څخه وتلی دی، او معلومه نه ده چې چیرته تللی دی؟ او څه کوي؟ او په کوم جرت کښې به کوم ... کښې ډوب تللی دی:...

د (مجید) اوس لږ څه فکر په ځای شوی دی، مګر خو ... ستړی او ستومانه دی او ډیر وږی او په کوڅو او بازارو کښې پاینده کوي، او چپ له ښخواخته چه چوب او جرتی به تللو، اوس له هر چا څخه د (حمید) پښتنې کوي، او ددهٔ په دوستانو او رفیقانو پسې ګرزي که له هغوی ئې ځنې دده د استوګنې ځای ځای ته معلوم کړی شي،

(مجید) چه هر چا څخه د (حمید) پوښتنه کوله، هغه به خپلې دې خبرې اظهار کولو، دده د کلاس دوه درې تنه طالبانو سره ئې هم چه ملاقات وکړو هغوی له (حمید) د بې خبرۍ ویناکړې وئې ویلو چه:

دوه ورځې له یوې مباحثې راپیسې د (حمید) په پته نه یاندې خبر نه یو چه چیرې دی؟

لکن ځنې ملګران وائي چه هغه لالپاندې او کړهاندې او پرېشانه، دې خوا او هغه خوا ګرزي او چاسره هیڅ خبرې او اترې هم نه کوي او داسې بربڼي لکه چه چرس ئې څکولي وي یا ئې شراب خوړلي وي یا ئې په چا باندې زړه بایللودی وي یا....»

پوهنیال مکتبي طالب العلم وویل:

« مونږ له یوی مباشتی باخلاو پښتوشپوراليسی (حمید) سره هیڅ نه دی لیدلی سږ کال هغه په کلنی امتحان کښی هم حاضر نه شو ، او که دی پدی امتحان کښی شریك شوی وی دهغه تعلیمات چه لوړ اوعالی و ، او فکر اوعقل ئی هم هسك و ، هر و مرو به دعالی الاعلی شهادتنامی په اخستلو سره کامیاب شوی و . »

مگر داچه هغه له امتحان څخه مخ اړولی دی. نو که لیونی شوی هم نه وی ، مونږاو تاسو باید په هغه باندی د لیونی حکم وکړو. ولی چه دده داحرکت هغه چاته پاتی کیږی چه غم وکړی، او په مباشتی خدمت ئی وکړی، اوو ئی ربړی او درمند ئی کړی او بیا په لیونیلی باندی اوروړ نه کړی .

## «پنځم اسم توك»

( حمید ) داسی قصد او پت کړی وچه خپل ځان مړ کاندی اوانتحار وکړی او خپل زړه د داسی سختی پېښی ځنی (چه یو خوا ددنیا اودآخرت رسوائی او نقصان ، او له بلی خوا دعشق اومحبت غلبه او فوران دی ) خلاص کاندی .

نو نی معلومه چه دا ډیر فکر او ګرده وخته د ( حمید ) په دماغ وکښی اوبدلی دی ؟ ،

یوخوا اډیره معلومه ده چه داسی چی فکر وه دده په زړه کښی نه راتله .

فقط هغه اوښکی چه ... تل به دا فکر اوحتی خیال دده په سر کښی ځای ونیواو ، هره ګړی او هر ساعت دامامون اوشوم تصور دده په زړه کښی ټینګیده او عزم او تصمیم ئی دخپل ځان د وژلو لپاره ... ...

هو ! ځینوی تعلیم اوبی تربیه ځلمیانو ته دځان وژلو فکر ، اودانتحار کاله کله وسوسه

ناځاپه پیښیږي او هغوی کمبختان په ځای د دې چه د هغه خراب عواقب او بدې نتیجې ته فکر وکړي او ویوهیږي په داسې یو شوم اقدام سره هم د هغوی دنیا او هم ګي عقبی خرابیږي، پړانده شوي هغه ته اقدام کوي .

د ځانوژل او د انتحار سبب تل د نفس ضعف، او غلط تعلیمات، او ناقصه عقیده، او لوستل د فساد ښبنونکو او خرابو قصو، او چټی تلقیناتو، او فکر و وی .

چه داټول سره ګډ شوي د ژوندون د خوښو لوغریزه (چه په هر یو ذی روح کښې شته) ضعیفه ګرزوي . او وروستهلدې څخه بې تعلیم او بې تربیې او سست عقیده کسانو ته داسې یو جنون او لیونتوب پیدا کیږي چه د هغه په اثر هغوی خپل ځانونه وژني .

(حبیب) هم داسې یو لیونتوب او جنون کښې پریوتلی و . هغه د عشق د زحمتو او د مینې د تکلیفو په مقابل کښې ځان نه شو سمبولی . او زیات له دې څخه ګی توان نه و چه د عشق په لمبو کښې وسوزي ، او د مینې په سکروټو باندې وکړیږي .

له بل اوري متیقن وچه د (حبیبه) په وصال باندې نظر و هغو موانع او محذوراتو ته چه موږ خوځلې اشاره کړې ده ، هم بري نشي موندلی . بلکه هغه ښځه به خوښ و له چه د عاشق تر دې حده پورې ورسیږي چه د انسانیت او اسلامیت له حده و د باندې سي او د خپل ځان د خپل وروره مخ کښې او خالق او مخلوق ته مفتضح او رسوا او شرمیدلی ووینی .

بر سیره پر دې دا فکر ګی هم په دماغ کښې ولوید و چه دی په امتحان کښې هم شامل شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دی او ډیر ممکن دی چه له‌دی لوری هم دخپل ورور په مخ کښې ګرم او مسئول وګرزی .

داګر دفکر ونه او مشکلات دده په مخ کښې ودریدل او په سر د هغه‌دی فکر زیات تکلیف ورته پیښ کړو چه نن یا صبا به زما محبوبه (حبیبه) خبریږی چه زه په امتحان‌کښې ش. ملله شوی نه یم او دهغې معشوقې په مخ کښې به زما مشر ورور مانه زیاړی او کنځلی کوی او تنده او تر و شه به راته وائی .

دی به خپل ورورته څه ځواب ووائی ؟ ....

دی وروسته له دې څخه چه په امتحان کښې ناکام پاتې دی . اودیو اوی ډاکټر به ځای کښې خوشی یو سودرپاتی دی څرنګه به پیغلې ( حبیبه ) سره مخامخ کیدی شی ؟ ...

دی همیغسې چه دعاشقی په درس کښې ناکام او نیم ګړی پاتې دی دطبی امتحا ن څخنی هم بی برخی شویدی ، دانبه ده چه ومری ، او وروسته لدینه ژوندون ونکړی ! ...

دارازی فکرونو چه مونږ لږ څه اشاره ورته وکوله د(حمید )په ماغزو کښې ځای نیولی و او دده زړه به ئې یخساوه او ه ژوندون څخه ئې موړاو زړه ئې ور څخنی تور کړی و ، او تینګ قصد ئې کړی وچه هرو مرو باید خپل ځان مړکړی . . . مګر نه‌پوهیده چه په کومه وسیله سره . دی عمل ته اقدام وکړی ؟ .

داخبره دتأمل کولو او سنجولو وړ وه ، نوځکه هغه ددی خبری په اطراف او شاؤ خوا کښې فکر کولو .

آخرته دا غوټه هم خلاصه او دامشکل هم ( حمید ) ته حل شو . ولی چه هغه به هره ورځ په اخبارو کښې راز راز انتحارونه او دخپل ځان دوژلو احوال لوستلو ، او په عین زمان کښې ئې په طبابت او ډاکټری کښې هم تر دی اندازی پوری مهارت درلود ، چه هرڅوك ووژلی شی او دا سی زهریات په فکر کښې ور غلل ، چه دهغو دیوی بخر کی له خوړلو ، پادیوه څاڅکی له څکلو څخه ، چټ پټ سړی مری .

داته ئې چه نیت او تصمیم دخپل ځان دوژلو دپاره تینګ او وسیلی او صورت ئې هم دده په فکر کښې ځای ونیولو ، نوزرئې خپله کتابچه اوقلم له خپل جیب څخه وویستل او داد خپل زړه خوږه وونکې قصه ئې په یو در دنا که صورت سره د( حمید ) د انتحار علت تر عنوان لاندی ولیکلو .

وروسته دلیکلو ددی داستان ښځه سمد لاسه دیو دوا فروشی دکان ته تللی دیوی ساختګی نسخی په وساله سره ئی وروسته له ورکولو دڅو پیسو څخه یو خطرناك زهر و پیرودل اوتیاره ماښام په ډیر بد وضعیت او بد احوال (چه هر څوك دهغه له لیدو څخه ددی په دی بد مقصد اوپیت باندی له ورا ښځه پوهیده ) انګړ کښی ننوتلو .

(حبیبه ) چه ترڅه دخپل میړه له وضعیته پوه شوی وه چه ( حمید ) اتوی او ورته به څېر دی نوله ډیر دوخته رائیسی پخپل محبوب او معشوق او میړه ( حمید ) پسی پخپلو اداوښکی ئی له ستر ګو څخه توئیدی او دده په انتظار کښی ډیره غمجنه ناسته وه .

عمدا چه د( حبیبه) نظر د( حمید) په قد او قامت باندی ولګیده ، دمخ ور باندی رڼا او زړه ئی په خندا [illegible] سمد لاسه دا خوشحالی ئی [illegible] خپګان باندی بدله شوه

[illegible] ( حمید) رنګ [illegible] ډیر [illegible] بیکاره شو او زړه ئی [illegible] دپیر وخت او دڅیګان [illegible] رنګ [illegible] او بالکل په غوښتی او پخو د ښی [illegible] نظر کښی داسی ښیی لکه چه ساتی خملی وی ، یا ډیری دوری ور باندی توئی شوی وی .

پوهیږ کله چه دعاشق او دمعشوق په منځ کښی داسی یو قوی او کلکه رابطه تل موجوده وی چه یو دبل په درد او خوږ وباندی له ورا پوهیږی او یو دبل په غم او اندیښنه کښی هر و مرو شریك وی ( حبیبه ) هم له څو ورځو څخه په دی خوا ( حمید) غوندی غمجنه وه او مخصوصا بیانی له صبا رائیسی ئی دوی خوږ پنه او خورا غمګینه ناسته وه ، او له مازیګر څخه رائیسی بالکل ځمکه او آسمان ور باندی ځرخیدل او کوری او ساعت د( حمید) ښائسته ښکلی مخ ، اونا وکړی بیر تو نه ، او صفا چیه ژ ډیره اوښتی غټی توری ستر ګی ، اونکی توری غوړی څنی ، او سم قد او خوږی خبری ، اومتنا سب حرکات ، او عالی صفات ، او ښه اخلاق ، او زیات شرم او حیاء او ډیره ښه مسلمانی او پرهیز ګاری او نور اوصاف ددی په خرابه زړ ګی کښی ګرځیدل ، او د ستر ګو رپولو په قدر به هم د ( حمید ) چهره ددی له ستر ګو څخه نه وتله ، او اوس د( حمید) ددی خراب او ابتر و صحیت دلید او حجه بالکل ځکه بکه پاتی او حته حیرانه شوی پریشانی او سودا ئی له حده زیاته شوه او د ( حمید ) ګردو حرکاتو او سکناتو ته چه داو ساو په ښانی بهئی کول خورا زیاته دقیقه څیره او د ستر ګی د نورت په اندازه بهئی هم هغه له خیلو ستر ګو څخه نه غورزاوه .

داول ماسخښن وخت دی ، او (حمید ) په خپلی خونه کښی د څراغ په مخ کښی ناست

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پوژور چرت کښې ډوب تللې دی . ( حبیبه ) دهغې کړکۍ ځنې بهرچه دده ترخوا پرانیتلې وه په تیاره کښې دده په پهره باندې ولاړه وه لکه چه د(حمید) له وضعیته پوه شوې وه چه دې کوم خراب فکر پخپل زړه کښې لرې ، اوښائي چه زه ځان پرې خبره کړمه .

( حمید ) له هغې خپلې صراحۍ ځنې چه دده په مېز باندې ایښې وه په گلاس کښې او به وا چولې او ور و سته له هغه دوړ په لوړي ځېرشو چه څوك خو به ده ته نه گوري .

هر کله ئې چه اطمینان پیدا شو چه هیڅوك ده ته نه گوري ، اودهیچا ده ته پام نه دی. نو یو ه پوړې سپین سفوف ئې له خپل جیبه وویستلو ، او ژرئې په گلا س کښې تش کړلو . بیائې خپله کتابچه له جیبه وویستله ، او څونورې کرښې ئې ورباندې و لیکلې ، او هغه ئې پرانیتلې دځراغ ترخوائې په مېز باندې کښېښود له بیائې نور کاغذ ونه هم له خپل جیبه و ویستلو ځېنې ئې بېرته په جیب ، اوځینې ئې څیرې کړل . بیائې له ناامیدۍ ځنې ډ که یوه کتنه خپلو کتابو ، او ا سبابو ، او خو نې ته وکوله ، اوبیائې دریشم له ״ ا״ ״

له خپل ځان سره وویل چه راشه له وراېو آخری دیدن له (حبیبه) [illegible]

او اوبو سره وکړه وروور خومې په کو ر کښې نشته چه دهغه لا سو نه مې هم مچې کړ ی وې نو وروسته له هغه څخه دا دمرگی کندول په سر نسکور کړه ، اوځان له د ی ډك دو سو سی حهان څخه آرام کړه .

( حمید ) د خورانا امید ی ، اومأیوسی په وضعیت لهخپله کوره بهر ه وووت، اوغوښته ئې چه اول له آسمان ، او سپو ږ مې ، او ستو ر یو ، اود باغچې له گلا نو ، اود حو ض له او بو سره خدای پاماني ، اوود اع وکوي ، او په آ خر ه کښې به له ورا ( حبیبه ) و پنې وروسته له هغه به دز هر و پیا له په سر آ ړ وي .

( حمید ) د انگړ په با غچه کښې دحو ض تر خوا ولاړ سپو ږمۍ اوستوریوته ئې په یو عجیب حسرت ، او نا امید ی سر ه کتل ، اوددنیا نرې وږ مې به ئې پخپلو سو گمو کشکولې اودژ وندون خوند ، او مزې ته به ئې فکر کاوه ، اودمرگ سخت ساعت، اوتکلیف ځنې ویرېده .

کله به ئې ویل چه څه لهدې فکر څخه تېرشه !! ا ودژ وندون نعمت غنیمت وبو له !. . . بیا به ئې چه د عشق تکلیف ، او رسو ائې ته کتل ، اود امتحان ناکامی ، اوملا متی به ئې چه لید له نو بغیر له دې څخه چه خاوره ئې پر ده شي بل ئې هیڅ یوه چاره نه تر ستر گو کېد له

پردې تر ډډ، او تنډ بډب کښې (حميد) ښا ګسته شو د ټپقی ډ و ب تللی و، او هيڅ
ئې ونه ليده چه (حبيبه) له ورا دمخه له هغو ګردو حرکاتو څخه چه په کور کښې ئې
کول خبره شوې ده، او په مجرد د ډېر وتلو دده څخه له کوره هغه سمدلاسه په کور کښې
ننوتلې، او «د (حميد) د انتحار علت» ئې او ستلی، او د زهر کڅوړه ئې ليدلې
او هغه ئې په سر اړولې دی !!! ...
ناڅاپه ئې د (حبيبه) کړيکه تر غوږه شوه چه وائې:

... زه د چا ور شم حميده! زه هم د ستاسو په درد کښې آخته يم. دادی چه د ستاسو
د ډاکټرۍ دا اوله نسخه زه ډوه مې استعمالوم. هله زر شه راشه زما د ستر ګو تور
داکتره، چه د ستاسو د ياك عشق دا مريضه د ستاسو د نسخې په استعمالو کښې څه غلطي ونکړي !!! ...

په ... د داور ... ددې غږ (حميد) و پوهيدلو چه (حبيبه) دده خونې ته ننوتلې ده
... ده، او اوس ده باندې مسخرګي کوي او خاندي ...
... ی حونی په اوري رهي شو.

په مجرد د ننوتلو په کور کښې له يوې هولناکه منظرې سره مخامخ شو.
يعنې وئې ليده چه (حبيبه) مخنکدن لري، او لکه مار غونډې ځان غوندي خوا، او هغه خوا
تاوېږي، او رغړي، او نژدې ده چه ساه ئې ووزي.
(حميد) په ډېره چالاکۍ سره د خپل محبوبې (حبيبه) سر له مځکې څخه پورته کړی په
غېږ کښې ئې ونيولو، او په نارو، او سورو باندې سرشو، او چيغې به ئې وهلې. مګر (حبيبه)
باندې تيره شوې وه، او کار له کاره وتلی و ...
(حميد) چه دا درد ناکه وضعيت وليدلو في الحال ئې هغه پاتې شوې زهر چه کڅوړه ول
پرې کښې پاتې و، په سر باندې اړولې تر آخر يعنې څاڅکي پورې ئې وڅکلو
او د (حبيبه) تر څنګه د زهرو له تاثيره و څرخيد.
په عين همدې وخت کښې چه د (حبيبه) ساه ددې په کوګل کښې خرهار لرله، او (حميد)
لکه مار غونډې پېچيل ځان باندې تاوونه خوړې فشهار کوي، بدبخت (مجيد) هم ستړی ستومانه
کورته ورننووت، او دخورا زيات خرهار او فشهار په اثر چه (حميد) له کوره څخه ئې واورېدو
ګرګيلې همغې خوا ته رهي شو.

تا څایه ( مجید ) کمبخت په داسې یوه بده منظره باندې ورو اوښتچه هر سړی به دهغې له لیده او ځنې خورا زیاته تراخوږ اوه، اودېر زیات به ئې ژړل، او هك پك به پاتې کېدو !

یعنې بېمخې او ګلالې ښځه ئې ( حبیبه ) پوخوا کېږه وزه پرته او ژبه ئې له کاره اوېدلې !! او دمرګي ورو ستنې سلګۍ وهی !! .. اومري !!! ... اوښاګانه اوښکلي ورورګي ( حمید ) په بله خوایه سر باندې چرایزی او ځان کندن لری ! . اولاس اوپښې آچوی !! .. اوسترګې ئې تکې سپینې اوښتي دي !!! ...

هرڅو مره چه کور وراني او کمبخت ( مجید ) بې اختیاره چیغې وکولې او بې وا که ناری او سورې ئې وهلې اوحبیبه!. حبیبه !!.. حبیبه !!! ..ئې ویلې او واز خطاءار خطائې خوځوله. اوله ځایه ئې پورته کوله هیڅ فائده ئې ونه کوله !!! . . .

حبیبه نامراده له لاسه وتلې، او بل عالم ته رسېدلې وه !!! . . .

بیائې په چټو باندې پیل کړی له ژړا ځنې پوری راوری ډك ستونی سره حمید! . حمید!!.. حمید!!!...ئې ویل .

( حمید ) په خورا زحمت او تکلیف سره دده په اوری سترګې آخوولې، په نیولې او غوږ سره ئې «بلې!» وو یل :

( مجید ) زرترزره په هغه باندې ځان نسکور کړی له خپلو سترګو څڅه ئې غټې غټې اوښکې توی کړی. تو دی اوښکي دهغه په مخ باندی توئی کړی وئی یوښتېدلو :

«زما ده زړه سره! تاسو باندې څه توقه شوی ده؟ ... اوزه ولې خپل کور په داسې سخته ویره کښې ککړ ګورم ؟ . . . »

( حمید ) چه دزهر څکلو په واسطه دنیم بېهوشۍ په حالت کښې لاس او پښې وهلې خپلې سترګې ئې پرانیتلې څو ځلې ئې پخپل سر سره هغې کتابچې ته چه په میز باندې دڅراغ ترڅنګ پرانیتلې ایښې وه، اشاره وکوله او وروسته له دې ځنې ئې په خورا زحمت او دېر تکلیف سره چه خپل ګردې پاتې قوا وی ئې په ویلو ددې څو توریو باندې وښندل وئې ویل :

## داده د ځان ساتنې او د وظیفې او دمینې نتیجه

وروسته له دې څخه ئې په سلګۍ وهلو باندې پیل کړی !.. له سترګو ځنې ئې اوښکې بهولې !! . . لاس او پښې ئې آچولې ، وچ کلك وا ویده !!! . . .

د ( مجید ) ژړا او انګولا او شور ماشور ګرد کورپه سر آخیستی او لږ څه وروسته همسایګان او پولیسان په دې کور کښې ور توئی شول . . .

# خاتمه

د کابل ښار ورځپاڼو کښې دا خبر په ګرد ښار او په دوي دري ورځو کښې په ګرد عالم کښې خپور شو چه ... پرون شپه ... ښار په ... برخه په فلانی کوڅی او سرای کښې د دوه تنه ( حبیبه ) او ( مجید ) نامی ... په سلسله سره انتحار کړیدی نن به دغوی جنازه د پولیس د ماموریت او د طبی دا کټر ... خه ورو ستنه څېړنې له رسیدلی اطلاع سره برابر د دوي د انتحار سبب په یوه کتابچه کښې ... درد دا که صورت سره ایکلی شوی دی پولیساو په لاس اوید لی دی چه سر له صبا به د پولیساو په مجله کښې دیا ورځې په د ول چاپیږی .

څو ورځې وروسته لدی څخه ددی چاپ شوی خبر په تعقیب دا خبره هم چاپ او خپره شوه :

« په څنګه کور کښې چه په فلانی ورځ دوه انتحار ونه پیښ شوی و ... او هغه زړه خوږ و ونکی علت او سبب د پولیساو په مجله کښې هره ورځ چاپیږی یو بل ... هم ... له ... او ... هغه ... شویدی او نن د بلدیی له خوا دار المجانین ته ورو سپارل شو »

*

* *

څو هفې وروسته به چه څوک دارالمجانین ته ورتلل نو هلته به ئې خوار ( مجید ) لیدو چه ... خدای د لګیر په یوه کنج کښې ناست دی . او خپل د واړه لاس ونه ئې تر ځنې لاندې نیو لی تب تب هره خوا ګوری .

په ظاهر د کښې غیر له زور خپګانه بل هیڅ یوه دلیو نتوب نښه د هغه په وجود کښې نه لید له کیده . فقط کله کله به ئې دا کترانو ته ویل :

« زما ور ورهم یو لوی دا کتر دی او په فلانی کوڅه کښې ئې ، شفا خانه ده چه زه ئې په میاشتی دوه زره روپۍ کرا ور کوم »

له دی څخه زیاتی نوری خبری او اتری له هغه کمبخت ځنی نه اوریدلی کیدی او د نورو لیونیانو په منځ کښې دی تل معصوم او مظلوم او آرام او بی ضرره بریښیده . « انتهی »

( د مؤلف یاد داشت : )

« ددی قصی اساسی موضوع د باندینی مطبوعاتو ځنی اقتباس شویدی »

د کابل ښار د ( ۱۳۱۷ ) کال د میاشتی د جدی ( ۲۱ ) شپه « کښلکی »

د کابل ښار ۱۳۱۷ کال د جدی د میاشتی ( ۲۱ ) شپه کښلکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

4722

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**